د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت
د عامه اطلاعاتو او نشراتو رياست

# ټرانسپورټ او هوايي چلند

مجله

علمي | معلوماتي | فرهنګي





د واټ ټرانسپورټ معين الحاج ملا عبدالسلام حيدري سره ځانګړې مرکه
په بدخشان کې د لوېدلي الوتکې ناويلي کيسه
فعاليت‌ها و دست‌آوردها
په استراليا کې د افغانانو ټرانسپورټي خدمتونه
نقش ترانسپورت در رشد و توسعه اقتصاد جامعه
موټر او پټر
د نړۍ پخواني هوايي ډګرونه



۳ ګڼه
۱۴۰۲ کال


خوست نړیوال هوايي ډګر

بسم الله الرحمن الرحيم

الْحَمْدُ لله ربِّ الْعَالَمِينْ وَالْعَاقبَةُ للْمُتَّقِينْ
وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ عَلَى أَشْرَف الأَنْبِيَاء وَالْمُرْسَلِينْ
وَعَلَى ءَالِهِ وَصَحْبِهِ أَجْمَعِينْ



# ټرانسپورټ او هوايي چلند

مجله

علمي معلوماتي فرهنګي


| | |
|---|---|
| امتیاز خاوند: | ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت |
| خپروونکی: | د عامه اطلاعاتو او نشراتو ریاست |
| مسئول مدیر: | نورالله غازي |
| کتنپلاوی: | امام الدین احمدي، حکمت الله آصفي،<br>ظفر خان عاطف، عزیز الرحمن فراجغاني |
| عکاس: | روح الله هنرجو |
| ډیزاینر: | عبدالغني افغان |
| پته: | انصاري واټ، ملي راډیو ټلویزیون ته څېرمه<br>ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت |
| اړیکې شمېره: | +(۹۳) ۰۲۰۲۹۲۳۲۹۶ |
| ایکسپاڼه: | @DChInd |
| ویبپاڼه: | www.mota.gov.af |

یادونه: له سرلیکنې پرته د نورو لیکنو سپیناوی د لیکوالانو پر غاړه دی.
د مجلې له مقالو څخه اخیستنه د سرچینې په یادولو سره جواز لري.

# په دې ګڼه کې:


| | |
|---|---|
| نوي کال ته په قوي هوډ او نويو هيلو ورداخلېږو (سرليکنه) | ۱ |
| د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د محترم مقام لنډ پيغام! | ۲ |
| د واټ ټرانسپورټ معين الحاج ملا عبدالسلام حيدري سره ځانګړې مرکه | ۳ |
| په بدخشان کې د لوېدلې الوتکې ناويلې کيسه | ۷ |
| په استراليا کې د افغانانو ټرانسپورټي خدمتونه | ۱۰ |
| نقش ترانسپورت در رشد وتوسعه اقتصاد جامعه | ۱۵ |
| د ريکشاوو لنډه تاريخچه | ۱۷ |
| موټر او ټکر | ۱۹ |
| باد او هوا | ۲۲ |
| کرنې او لاسته راوړنې | ۲۵ |
| د نړۍ ښخواني هوايي ډګرونه | ۴۳ |
| بعضی از اصطلاحات کاربردی هوانوردی | ۴۷ |
| الوتونکی موټر | ۵۰ |
| د اندونيزيا خوبه‌وړي پيلوټان | ۵۰ |
| داسې ښار چې د هر کور مخې ته يې الوتکه ولاړه ده | ۵۱ |
| داسې موټر چې له چلوونکي سره به خبرې کوي | ۵۱ |
| د لاجورد لارې دهلېز | ۵۲ |

# نوي کال ته په قوي هوډ او نويو هيلو ورداخلېږو

## سرليکنه

د يوه پوه خبره ده چې وايي: بريا دا نه ده چې پر وړاندې څه لرو؛ بلکې بريا دا ده چې تر شا څه پرېږدو؟ د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له برياوو، بېلابېلو لاسته‌راوړنو، پرمختګونو، له سيمې او نړۍ سره د وصل په زړه پورې کال تر شا پرېښود. ياد وزارت له ځينو ننګونو او خنډونو سره سره بيا هم په دې وتوانېده، چې د ځمکني او هوايي ټرانسپورټ په برخه کې له سيمې او د نړۍ له هېوادونو سره ونښلول شي، په هېواد د ننه ټولې اړوندې چارې ګړندۍ او له معيار سره سمې ترسره کړي او خپلو هېوادوالو ته په پوره توګه اسانتيا او سلګونو ځوانانو ته د کار زمينه برابره کړي. کومې اغېزمنې کړنې چې تېر ۱۴۰۲ل کال ترسره شوې دي، په پوره باور سره ويلی شو، چې د راتلونکي لپاره يو قوي بنسټ اېښودل شوی دی، که الله جل جلاله کول په همدې روحيه او ژمنتيا سره به نوي کال ته ورداخلېږو او د خپلو موخو او د لا نورو برياوو او پرمختګونو پر لور به په قوي عزم ګامونه پورته کوو، کومې ننګونې او خنډونه چې پر وړاندې لرو، د هوارېدو او د دې لارې د پوره خلاصېدو هڅه به کوو، تر څو ژر خپلې لويې موخې تر لاسه او خپلو هېوادوالو ته هوساينه رامنځته کړو. په نوي کال کې به د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت ډېر تمرکز په دې وي، چې د خدمتونو کيفيت لوړ او د راتلونکي لپاره له نړيوال معيار سره سم يو پرمختللی ټرانسپورټي سيستم ولرو او د هېواد ټول هوايي ډګرونه فعال وساتو، تر څو هېوادوالو او نړيوالو ګرځندويانو ته د تګ راتګ پوره اسانتيا رامنځته شوې وي.

موږ راتلونکي کال ته په قوي هوډ او نويو هيلو ورداخلېږو، غواړو په ۱۴۰۳ل کال کې مو چارې تر تېر کال لا ښې، له برياوو او پرمختګونو ډکې له نړيوالو معيارونو سره سمې ترسره شوې وي، که پر وړاندې مو کوم خنډونه وي، هغه مو له منځه وړي، خپلو هېوادوالو ته مو د لوړ کيفيت ټرانسپورټي خدمتونه وړاندې کړي وي او افغانستان مو د ځمکې او هوا له لارې د نړۍ له هېوادونو سره نښلولی او د نړۍ پر هسک لکه ځلانده ستوری ځلولی وي.

په همدې هيله

# د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د محترم مقام لنډ پيغام!

د الله ﷻ شکر ادا کوو چې موږ ته يې ژوند راوبښه او د دې توان يې راکړ، چې يو بل نوي کال ته په پوره ځواکمنتيا ورځو او فرصت تر لاسه کوو، چې د خپل هېواد او هېوادوالو لپاره لا ډېر خدمتونه تر سره کړو. ۱۴۰۲ل کال د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لپاره له لاسته‌راوړنو ډک او غوره کال و. دا چې الله ﷻ انسان داسې خلق کړی، چې هر وخت د لا نورو پرمختګونو او برياوو هيله لري؛ نو موږ هم غواړو راتلونکی کال مو په هره برخه کې تر تېر کال غوره او د لا نورو برياوو او پرمختګونو ډک واوسي. الحمدالله د افغانستان ټول هوايي ډګرونه فعال دي، د نړيوالو هوايي ډګرونو تر څنګ محلي هوايي ډګرونو کې هم مسافرو ته په معيار برابر خدمتونه وړاندې کېږي. په تېر کال کې د لسګونو وړو او لويو پروژو تړونونه لاسليک شول، د هېواد هوايي ډګرونو کې د بيارغونې کارونه ترسره شول، د خوست هوايي ډګر په نړيوال هوايي ډګر بدل شو، نړيوالې او کورنۍ الوتنې ترې پيل شوې او د فلای دوبی هوايي شرکت تر څنګ اير العربيه او يزد هوايي شرکتونو هم افغانستان ته خپلې الوتنې پيل کړې او تمه ده په دې نږدې کې به ترکش هوايي شرکت هم خپلې الوتنې افغانستان ته پيل کړي. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په هڅه کې دی، چې هوايي چلند پر ځان بسيا او پر خپلو پښو ودرېږي. همدارنګه د ځمکني ټرانسپورټ په برخه کې د ترمينلونو، هډو جوړولو او اړوند چارو معياري کولو ته کار وشو. د دې لپاره چې ټرانسپورټي شرکتونه معياري شي د ټرانسپورټي شرکتونو جوړولو او همدارنګه د نورو طرحو تر څنګ ټرانسپورټي اتحاديو په ټرانسپورټي شرکتونو اړولو لپاره ځانګړې طرحه جوړه شوه او تېر کال لسګونه معياري ټرانسپورټي شرکتونه جوړ شول. د موټرو د ثبت لپاره احصايوي کمپيوټري سيسټم رامنځته او د څه باندې اتيا زره موټر ثبت او دا پروسه روانه، تر څنګ يې موټرو ته د برېښنايي کارتونو او کتابچو د وېش لړۍ هم روانه ده. د مسافرو او سوداګريزو توکو د خونديتوب په موخه مسافروړونکو او باروړونکو موټرو تخنيکي اړخ ته پاملرنه وشوه. د باروړونکو موټرو د ښه تنظيم او سوداګريزو توکو د خوندي رسولو لپاره نوبت سيسټم رامنځته شو. د سيمې له هېوادونو سره په ټرانسپورټي اړيکو کې پراختيا راغله او د ځمکنيو دهلېزونو رامنځته کولو په پار ګټورې خبرې ترسره شوې. انشاءالله چې راتلونکی کال به هم د ټرانسپورټ او هوايي چلند د لا نورو پرمختګونو او برياوو کال وي او موږ به په دې توانېدلي يو، چې خپل هېواد ته د لا ډېر خدمت کولو جوګه وګرځو او هېوادوالو ته په دواړو برخو کې پوره اسانتيا برابره کړو.

**الحاج ملا حميدالله اخندزاده**

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست




# د واټ ټرانسپورټ معين
# الحاج ملا عبدالسلام حيدري سره ځانګړې مرکه

ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله په هره ګڼه کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت پر کړنو، لاسته‌راوړنو او راتلونکو پلانونو له يوه اړوند شخص سره مرکه لري. دا ځل مو د واټ ټرانسپورټ له معين ښاغلي الحاج ملا عبدالسلام حيدري سره د ځمکني ټرانسپورټ په برخه کې ځانګړې مرکه کړې، چې تاسو يې لوستلو ته رابولو.

پوښتنه: تر اوسه څومره ټرانسپورټي شرکتونو ته جوازونه ورکړل شوي او که یو څوک ټرانسپورټي شرکت جوړوي کوم اصول باید په پام کې ونیسي؟

ځواب: د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو څخه تر اوسه (۸۷) ټرانسپورټي شرکتونو ته جوازونه ورکړل شوي او شاوخوا (۱۰۰) ټرانسپورټي شرکتونو د اجازه لیکونو طی مراحل هم جریان لري. هغه هېوادوال چې د ټرانسپورټي شرکت جوړولو لېوالتیا لري، د ټرانسپورټي شرکتونو تنظیم او اجازهپاڼې له طرحې او طرزالعمل سره سم، باید خپل لس موټرونه ولري، دا یې تر ټولو لوی شرط دی، چې وروسته خپل اداري طی مراحل هم لري.

پوښتنه: په دې وروستیو کې د هېواد په ډېریو برخو کې باروړونکو موټرو لپاره د نوبت رونج سیستم رامنځته شو،له دې سره موټرو، د موټرو مالکانو او سوداګرو ته څومره ګټه رسېدلې، که دا موضوع لږ په پوره ډول روښانه کړئ؟

ځواب: د نوبت رونج سیستم چې د اسلامي امارت د امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) حکم دی، په عملي ډول د هېواد یو شمېر ولایتونو کې پیل شوی او د هېواد ۳۴ ولایتونو کې د پلي کېدو وړ دی، چې په دې سره ډېرې اسانتیاوې رامنځته شوي، د دې سیستم په رامنځته کېدو سره د موټرو انسجام رامنځته شوی، پخوا به چې د یو شمېر غیرمسئولو کسانو له خوا په بېلا بېلو نومونو پیسې اخیستل کېدې، مخنیوی یې شوی، د سوداګرو د مال خوندیتوب ته تر پخوا ډېره پاملرنه کېږي او ترڅنګ یې د هغه کمېشنکارانو مخه هم نیول شوې، چې د کرایې په برخه کې یې له موټرچلوونکو اضافه پیسې اخیستې. په ورته وخت کې د باروړونکو موټرو لپاره ځانګړي تمځایونه رامنځته شوي، چې د سوداګریزو توکو خالي کېدنه او باروَنه پکې ترسره کېږي، د دې تر څنګ په لویو ښارونو کې ټرافیکي ګڼه‌ګوڼه ورسره کمه شوې او که کوم سوداګر هر ډول باروړونکي موټر ته اړتیا ولري، په یو ترمینل کې یې پیدا کولای او په ډاډه ډول پکې خپل سوداګریز توکي لېږدولای شي.

پوښتنه: اوس په افغانستان کې د باروړونکو موټرو شمېر څومره دی، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د باروړونکو موټرو معیار ته په تخنیکي ډول څومره پام کړی دی؟

ځواب:په هېواد کې د باروړونکو موټرو شمېر یو سل او پنځوس زرو ته رسېږي، چې په دې کې هغه موټر هم شامل دي، چې په پوره معیار نه دي برابر، خو ښه خبره دا ده چې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له تخنیکي اړخه ډېره هڅه کړې چې هېواد کې باروړنکي موټر په معیار برابر کړي، چې په دې برخه کې طرحه هم جوړه شوې او په دوامداره توګه مو د خپل تخنیکي ټیم له لورې د موټرو تخنیکي معاینه ترسره کړې، همداراز د ( جي پي اس ) نښلولو پروسه مو پیل کړې او په جدي توګه یې تعقیب هم شوی، په همدې موخه د وسایطو د کنټرول لپاره مو د (جي پي اس) مرکز هم رامنځته کړی او ترڅنګ یې هېوادوالو، په ځانګړې توګه موټرلرونکو ته په یو شمېر ولایتونو کې (One Stop Shop) یا واحد کاري مرکزونه رامنځته کړي، په دې مرکزونو کې د اړوندو ادارو کارکوونکي تر یو چتر لاندې راټول او مراجعین دې ته اړتیا نه لري، چې په بېلابېلو وزارتونو او ادارو وګرځي، مامورین ورته همدلته خدمتونه وړاندې کوي. همداراز باروړونکو موټرو ته د اسانتیاوو په موخه، هرات ولایت کې لوی ترمینل او بلخ ولایت کې تیرپارک جوړ شوی او ډېر ژر به اقینې بندر کې هم تیرپارک ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

**پوښتنه:** نړیوال واټ ټرانسپورټ ته څومره کار شوی او په دې تړاو څومره پرمختګونه شوي دي، که په تفصیل سره پرې رڼا واچوئ؟

**ځواب:** د نړیوال واټ ټرانسپورټ د پرمختګ په برخه کې ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت تل د سیمې او ګاونډیو هېوادونو سره په تعامل کې دی. چې د بېلا بېلو کنوانسینونو په ځانګړې توګه د (TIR[1]) کنوانسیون له لارې ډېرې اسانتیاوې رامنځته شوې دي، همداراز ایران هېواد سره د الکټرونیکي تیر په برخه کې هم هڅې روانې دي، ترڅنګ یې ټاکل شوې د (CMR[2]) او (کارنت دي پاساژ[3]) سند د عملي کېدو په موخه د افغانستان له بېلا بېلو ادارو څخه یو تخنیکي ټیم ایران هېواد ته د زده‌کړې په موخه واستول شي. د نړیوال واټ ټرانسپورټ برخه کې نورې هڅې هم شوي، ترڅو د نړیوالو ټرانسپورټي شرکتونو وسایطو د تګ راتګ او همداراز نړیوال ټرانزیټ برخه کې لازمې اسانتیاوې رامنځته شي، همدې موخې ته د رسېدو لپاره مو یو شمېر هېوادونو لکه: اوزبکستان، ترکمنستان، ایران، پاکستان او چین ته له لاسته راوړنو ډک سفرونه ترسره کړي، چې د قناعت وړ پایلې یې درلودې.



IRU International Road Transport Union

1_Transport International Road
2_Convention on the International Carriage of Goods by Road
3_Carnet de Passages en Douane

پوښتنه: کابو یو کال وړاندې د آی آر یو اکاډمۍ هوکړه لاسلیک شوه، کارونه یې تر کومه رسېدلي دي او که چېرې دا اکاډمي جوړه شي څه ډول کسان به پکې روزل کېږي او ګټه به یې څه وي؟

ځواب: د (IRU) اکاډمۍ د جوړېدو په برخه کې دومره ویلی شم، چې یوه طرحه د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت او د سوداګرۍ او پانګونې خونې ترمنځ لاسلیک شوې او یاده طرحه د سوداګرۍ او پانګونې خونې لخوا د ( آي ار یو ) اتحادیې ته استول شوې، البته باید ووایم، که یاده اکاډمي رامنځته شي، د نړیوال ټرانسپورټ په برخه کې به مو د ټرانسپورټ سکټور له نړیوالو معیارونو سره پوره بلدتیا پیدا کړي او د دې برخې د کسب ګرو د ظرفیت لوړونې په برخه کې به مو لوی ګام پورته کړی وي.

پوښتنه: مسافروړونکي بسونه د پخوا په پرتله څومره معیاري شوي دي او د مسافرو خوندیتوب ته څومره پاملرنه شوې ده؟

ځواب: د مسافرو د خوندیتوب برخه کې هم پوره پاملرنه شوې او په دې برخه کې په عملي ډول مسافروړونکو موټرو کې د (جي پي اس) نښلېدو پروسه جریان لري او شاوخوا اتلس زره موټرو ته د فعالیت په موخه ټرانسپورټي کارټ او کتابچې وېشل شوي، تاسو ته معلومه ده، چې د ټرانسپورټ کارټ او کتابچې هغه موټرو ته ورکول کېږي، چې په خوندي ډول د مسافرو د لېږد جوګه وي، د دې ترڅنګ د مسافرو د خوندیتوب په موخه هره ورځ تر ۳۰۰ پورې د مسافروړنکو موټرو لیدنه کېږي، ترڅو له تخنیکي اړخه د مسافرو انتقال ته چمتو وي.

پوښتنه: : د راتلونکي کال لپاره د ملکي هوايي چلند په انسټیټیوټ کې د واټ ټرانسپورټ ډیپارټمېنټ هم رامنځته شو، په دې ډیپارټمېنټ کې به څه تدریسېږي او کوم ډول کسانو ته به ځای ورکول کېږي؟

ځواب: هو! د واټ ټرانسپورټ ډیپارټمنټ رامنځته کېدل یوه بله هڅه ده، چې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د مشرتابه او کارکوونکو په هلو ځلو رامنځته شو، په لومړي سر کې به زموږ موخه دا وي، چې خپلو کارکوونکو ته د ظرفیت لوړونې په برخه کې لنډمهاله کورسونه او سیمینارونه ترتیب کړو، ترڅو د واټ ټرانسپورټ برخې کارکوونکي په لوړه روحیه او وړتیا د هېواد خدمت لپاره چمتو کړو، ترڅنګ یې په پام کې ده چې د ټرانسپورټي شرکتونو او موټرچلوونکو لپاره هم له اصولو سره د بلدتیا په موخه کورسونه دایر کړو، ترڅو له ټرانسپورټي اصولو سره پوره بلدتیا پیدا کړي او زموږ هڅه به دا وي، تر څو یاد ډیپارټمنټ په اوږدمهاله انسټیټیوټ بدل کړو او هېوادوالو ته د ځمکني ټرانسپورټ په برخه کې د معیاري زده‌کړو زمینه هم برابره کړو.

پوښتنه: په هېواد کې څومره بسونه او ټکسۍ فعالیت کوي او انلاین ټکسیو فعالیت په اړه که معلومات راکړئ چې فعالیت یې پیل شوی او که نه؟

ځواب: اوسمهال هېواد کې نږدې ۸۵ زره بسونه او ټکسي وسایط فعالیت لري. د انلاین ټکسي په هکله باید ووایم، چې موږ د ټرانسپورټي شرکتونو د تنظیم او اجازه‌پاڼې طرحې په متن کې ځای ورکړی او هېوادوال کولای شي د انلاین ټکسي خدمتونو شرکت په ډېرې اسانۍ سره جوړ کړي. د آنلاین ټکسي غوښتنه موجوده ده، یو شمېر هېوادوالو او سوداګرو یې جوړېدو ته زړه هم ښه کړی دی.



# په بدخشان کې د لوېدلې الوتکې ناويلې کيسه

امام‌الدين احمدي
(د عامه اطلاعاتو او نشراتو رئيس)

له تايلېنډ هېواد څخه مو يوه امبولانس الوتکه چې يوه ناروغه ښځه، له دې سره يې خاوند چې يو سوداګر و، دوه ډاکټران او موږ دوه تنه پيلوټان په (Dassault Falcon 10) چوله الوتکه چې هوايي امبولانس ده، کېناستو او د مسکو پر لور مو حرکت وکړ. له تايلېنډ څخه چې راووتو، يوه ناسته مو د تېلو اخېستو لپاره په هندوستان کې وکړه او کله چې د پاکستان فضا ته داخل شوو، موږ درک کړه چې په الوتکه کې کومه ستونزه شته. د پاکستان له لورې چې کوم مسير راته وښودل شو، پر هغه مسير مخامخ ډېر تېز شمال و، چې الوتکې پکې سم تګ نشوای کولی او زموږ لوړوالی هم دغه مهال له ځمکې څخه ۳۸زره فوټه و، پاکستان کې د هوايي ټرافيکو څخه راته وويل شول چې ارتفاع يا لوړوالی مو ډېر دی، الوتکه لږه راښکته کړئ، الوتکه مو تر ۳۳زره فوټو پورې راښکته کړه؛ خو په الوتکې کې کوم بدلون رانغی، د تېلو د حرارت درجه ښودل کېده چې ټيټه شوې ده او د الوتکې څخه د باندې هوا حالت منفي ۴۹ سانتي ګرېډ ښودل کېده. موږ بېرته الوتکه پورته کړه، مګر په الوتکه کې کوم مثبت بدلون نه ښکاره کېده. زړونو ته يو څه وېره راولوېده، شاته ناروغ او دوه ډاکټران له دې ستونزې بيخي نه وو خبر. موږ چې د افغانستان د بدخشان ولايت له پاسه تېرېدو، د افغانستان هوايي ټرافيکو سره مو اړيکه و نه نېوه، اخېر په دې پوه شوو، چې خپل منزل ته نشو رسيدلی؛ ځکه د الوتکې له سيګنل څخه ښکارېده، چې له خطر سره مخ ده. موږ د دې په لټه کې شوو چې بېړنۍ ناسته وکړو. دستي مو د تاجکستان له هېواد سره اړيکه ونيوه، چې موږ ته د ناستې لپاره ځای وښيي، موږ پخوا د تاجکستان په کولاب يوه نظامي هوايي ډګر کې ناسته کړې وه، هغه راته معلوم او نږدې و، خو د تاجکستان له لورې مثبت ځواب رانکړل شو، راته وويل شول چې هغه هوايي ډګر اوس نه دی فعال او ناستې ته نه دی چمتو. بيا د هغه ځای د هوايي کنټرول مدير راته وويل، چې زه لاره درښايم چې څنګه لاړ شې، ده به چې څنګه ويکټوريټ يا لارښوونه راته کوله، ما هم الوتکه په همغه لورې پسې بېوله. په همدې کې مې ناڅاپه يو لوړ غر مخې ته ودرېد، زړه مې تر پښو تېر شو. هر څومره هڅه مې چې وکړه الوتکه پورته کړم، نه کېده، په دې وخت کې مې له خولې وارخطا غږ ووت او د تاجکستان د هوايي کنټرول مدير ته مې وويل: "مخامخ مې لوړ غر دی، نه شم کولی چې ترې لوړ شم!"

هغه راته وويل: زه ستا لوړوالی نه شم ليدای، چې له دې سره زه د الوتکې د ناستې په فکر کې شوم او له هغه سره مې اړيکه پرې کړه.

ما چې غره ته وکتل، پوه شوم چې ټکر ورسره کوم، دې ته اړ شوم چې الوتکه راوګرځوم. له راګرځېدو سره مې لاندې د غرونو په سرونو یو څه هوار ځای ولید، هڅه مې وکړه چې په همدې ځای بېړنۍ ناسته وکړم، په دې وخت کې یوازې شل ثانیې وخت و، چې سپرلیو ته احوال ورکړم او له چمتووالي ورته ووایم، الوتکه مې ټیټه کړه، د ناستې پر وخت مې سترګې پټې کړې، چې درز شو، نور نو پر ځان نه یم پوهېدلی...





ډاکټر زیاته کړه، زه په خود راغلم، سترګې مې وغړولې، ځان مې شدید درد کاوه، الوتکې ته مې وکتل، شاته برخه یې بېله شوې وه، نه د ناروغې میرمنې چېرکټ ښکاریده او نه هم سوداګر و، زما بل ملګری ډاکټر هم په الوتکه کې نه و. له ځایه پورته شوم، ډېره واوره وه او سخت ساړه و، چې ووتم، ډاکټر ملګری مې وموند ښه و، ژوندی و او ډېر نه و ژوبل شوی؛ خو له بده مرغه سوداګر او ناروغه میرمن یې دواړه مړه شوي وو. له هغوی سره نور کومه مرسته نشوای کېدای.
بل ډاکټر ملګری مې راپورته کړ او دواړه نیمې پاتې الوتکې ته پورته شوو، تر څو له شمال او سختې یخنۍ نه په امان پاتې شو. تیاره ماښام و، د پیلوټانو کابین ښېښه مې ورماته کړه، ورننوتم، دواړه ټیپان شوي وو، د یوه شونډه پرې وه او د بل هم پوزه او مخ سره خوږ وو او پښې یې هم یخنۍ سوې وې، تر سهاره مو سخته شپه تېره کړه، سهار وختي پیلوټ راته وویل چې ما له هوا څخه په دې نږدې کې یو کلی تر سترګو شو، ته ژر ځان ورورسوه، چې له مرګه وژغورل شو. له الوتکې چې ووتم، په یو میټر درنه واوره کې مې مزل پیل کړ، پینځه ساعته مزل مې وکړ، چې اخر یو کلي ته ورسېدم....
دا وه د یوه پیلوټ او ډاکټر کېسه اوس به زه خپله کېسه درته وکړم، چې څنګه له دې الوتکې خبر شوو او څنګه مو پیدا کړه.
(۱/۱۱/۱۴۰۲) نېټه ماښام مهال خبر شوو، چې یوه روسۍ الوتکه په بدخشان ولایت کې غورځېدلې ده، سهار مو په ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حمیدالله اخندزاده سره په همدې اړه یوه بېړنۍ ناسته وکړه، چې په پایله کې د هوايي ډګرونو لوی رئیس الحاج عبدالستار غروال، د هوايي ترافیکو سرپرست عبیدالله رشیدي او زه امام‌الدین احمدي غوره شوو، چې د دې الوتکې څرک ولګوو. له ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت څخه موږ درې کسان د پکتیک په الوتکه کې او هممهاله د دفاع وزارت یوه چورلکه د دوی په لټون پسې ووتو. موږ ته چې کوم کوردینات راکړل شوي

وو، تر مازديګره پسې وګرځېدو د دوی هيڅ ځرک مو پيدا نه کړ؛ دواړه راکړل شوي کوردينات غلط وو؛ ځکه غلط وو چې الوتکې کله له تاجکستان سره اړيکه پرې شوې وه، خپل مسير يې بيخي بدل کړی و. موږ د بدخشان ټولو ولسواليو ته احوال ورکړ، تر څو د ځمکې له لارې د الوتکې په لټون کې راسره مرسته وکړي.

ماښام نا وخته بدخشان ولايت ته راغلو، هلته مو د والي سره په همدې اړه خبرې کولې، تر څو ولسواليو ته احوال ورکړي او د الوتکې ځرک ولګول شي. په دې غونډه کې د کوف اب ولسوالۍ ولسوال هم ناست و، چې د ده ټيليفون ته زنګ راغی او ورته وويل شول چې د ارزکوه پدېو کلي ته يو بهرنی راغلی او له دې سره مو دستي له بهرني سره چې په روسۍ ژبه يې خبرې کولې، اړيکه ونېوه، ټيليفون لږ لږ کار کاوه، له دې بهرني کس څخه چې له لويدلې الوتکې څخه و، له ده مو ځينې معلومات واخيستل او ويې ويل چې له شپږو کسانو څخه دوه يې مړه او څلور يې ژوندي دي، خو بايد ژر وژغورل شي. ده وويل زه چې په کوم پل راغلی يم، کليوال دې په همدې پل باندې لاړ شي او هغه کسان دې ژر وژغوري. موږ کليوالو ته خبر ورکړ، چې ژر تر ژره ځوانان د دې کسانو د ژغورنې لپاره تيار کړئ. څلوېښت پنځوس کسه ځوانان، چې د امارت اسلامي مسئولين هم ورسره وو سمدستي پسې ووتل، دوی پاتې درې واړه کسان ژوندي تر کلي راورسول. ډېره عجيبه او له پند څخه ډکه پېښه راته ښکاره شوه، يوه شتمن سوداګر خپله ميرمن په دومره شتو کې هم له مرګه ونشوای ژغورلی او اخېر اجل د افغانستا غرنۍ سيمې ته برابر کړل.

موږ سهار وختي د الوتکې د غورځېدو ځای چې نوم يې (ارز کوه پدېو) و، ځانونه ورسول، د دوو مړو شوو کسانو جسدونه مو د راسره چلګۍ په مرسته د بدخشان مرکز فيض‌اباد ښار ته راوړل. څلور کسان چې دوه يې پيلوټان او دوه پکې ډاکټران وو، د کلي خلکو ښه نازولي، ګرم يې ساتلي او خواړه اوبه يې ورکړې وې، موږ سمدلاسه د دوی د ټپونو د درملنې لپاره لومړی فيض‌اباد ښار ته راورسول او د لا نورو روغتيايي خدمتونو لپاره مو څلور واړه کابل ته راورسول او په داودخان روغتون کې يې د شونډې او زنې عمليات وشول، د يخنۍ له کبله د سوزېدلو پښو ښه درملنه وشوه.

که څه هم دوی د هوايي چلند د نړيوالو اصولو خلاف کار کړی و، همدا کار د دې لامل شو، چې دوی ته داسې يوه پېښه وروشي، موږ په بدخشان ولايت کې درې فعال هوايي ډګرونه درلودل، که يې د افغانستان هوايي ټرافيکو سره اړيکه نېولې وای او د الوتنې په پلان کې يې عبور ښودلی وای، داسې پېښه نه رامنځته کېده. دا چې ولې دوی داسې وکړل، هيڅ ځواب يې نه درلود.

د افغانستان وګړو او د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت دوی سره انساني همدردي وکړه، د دوی د ټپونو درملنه يې وکړه، دوی يې په خوندي ډول رخصت کړل، که څه هم روسيې ته له ستنېدو وروسته د روسيې فدراتيف هوايي چلند لخوا د دوی د ناقانونه کړنو له کبله د دوی د پيلوټۍ جوازونه هم لغوه شول؛ خو په مغز کې به يې تر ډېره د بدخشان غر همداسې دنګ او په پرتم ولاړ وي او چې خپل ټپونه ګوري، افغانستان او افغانستان کې د ژغورنې ټوله کيسه به يې سترګو ته درېږي.



# په استرالیا کې د افغانانو ټرانسپورټي خدمتونه

**نورالله غازي**

استرالیا هغه هېواد دی چې له افغانستان څخه کابو دوولس ځله زیات دی، په نړۍ کې له پرمختللیو صنعتي هېوادونو څخه ګڼل کېږي. د کاني او زراعتي توکو د تولید له پلوه په نړۍ کې لومړی او لوړ ځای لري. د دې هېواد ډېر پخواني اوسېدونکي هغه تورپوستي انسانان دي چې په استرالیا کې د ابروجینیان (Aborigines) په نامه یادېږي، ویل کېږي، چې دوی کابو پنځوس زره کاله وړاندې دې هېواد ته له سوېل ختیځې اسیا څخه راغلي وو. هالنډیان هغه لومړني کسان دي چې دا هېواد یې د لومړي ځل لپاره لیدلی دی. د ۱۷۸۷ز کال را په دې خوا انګریزان هغه لومړي اروپایان وو، چې په دې هېواد کې یې استوګنه غوره کړه او استرالیا تر ۱۹۰۹ز پورې د انګریزانو مستعمره پاتې شوه. هغه وخت د استرالیا د پالیسۍ سره سم د همدې دوو هېوادونو خلکو کولای شول چې دې هېواد ته لاړ شي. په لومړیو کې سپین پوستو اروپایانو د دې لویې دښتې د تسخیر په موخه له ځان سره غوایان او آسان راوستل، له دوی سره به د آسانو او غوایانو ګلې ورسره وې، دا چې دې حیواناتو ډېرو اوبو ته اړتیا درلوده؛ د سمندر له غاړې ډېر لرې نشوای تللی او یوازې دوه سوه کیلو متره د سمندر له غاړې لرې تللای شول. دا چې دوی باید په دې دښته کې پرمختګ کړی وای، نو داسې وسیلې او کسانو ته یې اړتیا درلوده، چې د دوی اړتیاوې ورپوره او د دښتې په ابادولو کې ورسره مرسته وکړي. همدا و چې د اوښانو د راوستو فکر پیدا شو، اوښ هغه حیوان و، چې په وچه دښته کې یې له اوبو او خوړو پرته یې تر څو ورځو پورې مزل کولای شواي او له دې سره یې خوارېکښ او زیارکښ اوښبه هم پکار وو، چې په سمه توګه له دې حیواناتو ګټه پورته کړي؛ ځکه چې انګریزان د اوښانو پر طبعیت او پاللو سم نه پوهېدل.

دا چې زیات شمېر مهاجرین استرالیا هېواد ته لاړل، په دې کې د (جارج جنیز لیندلز) په نوم یو کس هم و، ده څوارلس کاله په هند کې تېر کړي وو، د کراچۍ او پېښور تر منځ لاره کې یې له اوښانو سره زیات سفرونه کړي وو، د افغانستان، بلوچستان او هند د صحرایي سیمو اوسېدونکي او په ځانګړي ډول کوچیان لېدلي وو، چې له اوښانو څه ډول ګټه اخلي. دا چې جارج جنیز لیندلز ته د علمي څېړنو دنده ورسپارل شوې وه او تر څنګ یې د نورو په پرتله د اوښانو په هکله زیات معلومات هم درلودل؛ ځکه چې د شرق الهند کمپنۍ لپاره د آسونو په سوداګرۍ بوخت و؛ نو په ۱۸٦۰ز کال د اوښانو په لټه افغانستان ته لاړ. د کابل، کندهار او پېښور له بازارونو څخه یې ۲۴ اوښان او درې تنه افغان پښتانه اوښبانه: دوست محمدخان، احسان‌خان او بلوچ‌خان په نومونو هم له ځان سره استرالیا هېواد ته راوستل. ویل کېږي چې دې اوښانو ډېر ژر د استرالیا له طبیعي شرایطو سره تطابق وکړ او خپلو چارو ته یې دوام ورکړ، دا هغه لومړني افغانان وو چې د استرالیا په دښتو کې د څېړوونکې ډلې سره یو ځای شول. له دوی سره بریتانویانو درې کلن تړون وکړ، مګر افغانانو په‌خپله دې کار ته ملا وتړله او استرالیا هېواد ته یې د اوښانو کاروبار په‌خپله پیل کړ. دوی به د افغانستان د پښتني سیمو څخه اوښان او خلک بېول، د کراچۍ له بندر څخه تر بمبیۍ، له هغه ځایه سریلانکا او بیا به د استرالیا هېواد بندري ښارونو ته راتلل، چې د ۱۸٦۰ - ۱۹٦۹ز کلونو تر منځ د اویا کلونو په موده کې له درې تر څلورو زرو پورې افغانان استرالیا هېواد ته ورسېدل. دوی چې په لومړي ځل له کښتیو ښکته شول، د استرالیا ځايي خلکو به له دوی څخه یو ډول وېره درلوده؛ ځکه چې دوی تر دې وړاندې داسې خلک چې دا ډول لباس او لنګوټې دې ولري، نه وو لیدلي؛ خو ډېر ژر په دې پوه شول چې دا خلک خواریکښ، کاریګر او یوازې یې له خپل کار سره کار دی. وروسته د دوی تر منځ داسې د باور وړ فضا رامنځته شوه چې د سپین‌پوستو اروپایانو په پرتله یې افغانانو ته ډېر ارزښت ورکاوه او د باور وړ خلک یې بلل.




دا چې افغانان دینداره خلک وو، استرالیا ته په رارسېدو دستي د جومات جوړولو په فکر کې شول، چې دوی پکې خپل عبادت ترسره کړي، دوی په ۱۸۸۰ز کال لومړی جومات په بروکن هیل کې، چې د استرالیا په یوه لرې پرته سیمه کې پروت دی، جوړ کړ چې تر پینځه ویشتو کسانو پورې لمونځکوونکي پکې ځایېدل. دا جومات اوس هم شته چې د اوښبه افغان مسلمانانو تاریخ ورسره تړلی دی. دوی لومړني کسان وو، چې دې لویې وچې ته یې د اسلام سپیڅلي دین راوړ او د خپلو مړو لپاره یې هدېرې جوړې کړې او په استرالیا کې لومړنی قبر چې جوړ شو، هغه د افغان قبر و. اوس هم د ځینو اوښبنو افغانانو قبرونه شته چې د قرآن کریم ایاتونه او د دوی نومونه پرې لیکل شوي دي.

دغو اوښبه افغانانو به شپه ورځ په میاشتو میاشتو د استرالیا په لویو سپېرو دښتو کې له خپلو اوښانو سره سفرونه کول، دوی به د ځان او هم د خپلو اوښانو لپاره خواړه برابرول او له مخابراتي وسایلو پرته به یې لاره سیي کوله او که په لاره کې به ناروغان شول، د ځان درملنه یې پخپله کوله. په دې افغانانو کې یو داسې حکیم هم استرالیا هېواد ته لاړ، چې د ډېرو وګړو درملنه به یې په وړیا ډول کوله او که چا به کومه ډالۍ او څه ورکړل، هغه یې هم خیریه موسسو ته ورکول چې په غریبانو یې وویشي، دد ه نوم محمد عالم و چې د ۱۸۸۴- ۹۰ کالونو تر منځ استرالیا ته د اوښبه په توګه لاړ و، دا اوښبه حکیم چې مړ شو، ویل کېږي، جنازې ته یې سلګونه موټر راغلي وو او د ده مړی یې هدېرې ته بدرګه کړ. اوښبه افغانان به چې پر کومه لاره تلل، د لارو غاړو ته به یې د خورما ونې لګولې، دوی خپلې کورنۍ تر شا پرېښې وې، په اوښانو پسې به چې شاته ستړي ستومان روان وو، له ځان سره به یې د خپل وطن په یاد سندرې او لنډۍ زمزمه کولې. اوښبه افغانان به چې چېرته تلل، ګڼ به سره اوسېدل، دوی د خپلو اوښانو او ځان لپاره ځایونه جوړول چې غان ټاون به یې ورته ویل. دې افغانانو چې له خپل کلي او وطن څخه ډېر لرې وو، له دوی څخه خپلې کورنۍ او میرمنې په خپل هېواد کې پاتې وې، له دوی څخه یې ځینو د دې هېواد له ځایي تور پوستو او یا اروپایي سپین‌پوستو ښځو سره ودونه وکړل، دې نجونو ځینو پخپله رېل‌سټېشنونو او پوستخونو کې کار کاوه او ځینې هغه نجونې وې، چې پلارونه یې په رېل‌سټیشنونو او پوست‌خونو کې کار کاوه. دې نجونو ته افغانان د باور وړ او ښکلي خلک وو، دنګه ځواني یې درلوده، زخمت‌کش او خواریکښ خلک وو، غوره اخلاق یې درلودل او شراب یې نه څښل. دې ښځو چې له افغانانو سره ودونه وکړل، که څه هم په ژبه سره نه پوهېدل، خو اسلام یې ومانه او د نورو پښتنو ښځو په څېر به یې ارتې جامې اغوستې، لوی پړوني به یې پر سر کول، د خوګ غوښه یې نه خوړله او د دوی له کاروانونو سره به لکه کوچۍ یو ځای روانې وې او پر لاره به یې ورته پخلی او نور اړوند کارونه کول. سپین پوستو ښځو د افغانانو کلتور خپل کړ او د خپل میړه تر راتګه به په کور کې وې. اوښبه افغانان چې پر کومه لاره تلل، دا لارې مشهورې او لویې شوې چې وروسته پر سړکونو او رېل‌پټلیو بدلې شوې. دوی په استرالیا کې خپلې کورنۍ جوړې کړې او غان ټاون په نوم ښارګوټي یې رامنځته کړل. افغانان چې کله استرالیا ته لاړل، په لومړیو کې یې قدر ډېر و؛ خو وروسته سپین پوستو اروپایانو په کار او مزدورۍ ورسره لانجې جوړولې؛ مګر افغانانو ته مزدوري او کار ډېر پیدا کېده؛ ځکه چې ډېر کار یې کاوه، سختو کارونو ته یې غاړه اېښوده. باوري وو او اوښان یې هم تر ډېرو لرې لرې ځایونو پورې تللای شول. افغانانو په خپلو منځونو کې ښې اړیکې درلودې او ښه ګټه یې ترلاسه کوله، په هغه وخت کې کاغذي پیسې نه وې، د سپینو زرو سکې وې چې اوښبه افغانانو به دا سپینې پیسې په تول سره بېلولې.

کله چې عصري ټرانسپورټ رامنځته شو او اوښانو څخه ګټه اخیستنه کمه او په ټپه ودرېده، د هغه وخت د استرالیا حکومت افغانانو ته وویل چې خپل اوښان دې یا پخپله ووژني او یا دې حکومت ته پیسې ورکړي چې ورته ویې وژني. دا چې افغانانو باندې خپل اوښان ډېر ګران وو؛ نو نه یې پرې خپله د وژلو زړه کېده او نه یې هم حکومت ته سپارلای شول. خپل وفادار اوښان یې لرې دښتو ته بوتلل او همداسې لاره ورکې او پرېشانه یې خوشې کړل. اوښانه یې ډېری بېرته خپل هېواد او مېنو ته راستانه شول؛ خو په استرالیا کې یې دایمي بدلونونه راوستل، د دغې لویې سیمې فزیکي او کلتوري نقشه یې واړوله. دوی استرالیا ته داسې څه راوړل چې پخوا په استرالیا کې نه وو، دوی دې هېواد ته اسلام راوړ، جوماتونه او هدېرې یې جوړې کړې. د خورما ونې یې ولګولې او اوښان یې خواره کړل. هغه لاره ورکي خو قوي اوښان د استرالیا ځنګلونو ته ننوتل او په لویو ځنګلونو کې یې خپل ژوند ته دوام ورکړ، اوس استرالیا هغه هېواد دی، چې یو میلیون اوښان لري، چې ځینو کسانو یې د روزنې فارمونه ورته جوړ کړي، چې شېدې او نور محصولات یې په استرالیا کې پلورل کېږي، چې دا هم د افغانانو یوه غوره نښانه ده چې په استرالیا کې ترې ګټه اخېستل کېږي.

## غان اورګاډی:

تر ۱۹۲۰ کلونو پورې په استرالیا کې د اوښبه افغانانو له خوا بنسټیز کارونه ترسره شول. سړکونه، ټلیګرام، رېل پټلۍ او نور ورته کارونه د اوښبه افغانانو پر مټ ترسره شول او د استرالیا لویه وچه تر ډېره کشف او معلومه شوه. کله چې د ټرانسپورټ عصري وسیلې رامنځته شوې، بیا هم ځینو افغانانو ټرانسپورټي موټري شرکتونه جوړ کړل او ورو ورو استرالیا د پرمختګ پر لور ګامونه اخیستل. په ۱۸۹۱ز کال لومړی اورګاډی له (کورن) تمځای څخه د (اودناټا) اورګاډو تمځای ته ورسېد، چې په دې طرحه کې ۱۵۰ افغان اوښبانه په کار بوخت وو. په لومړیو کې دې اورګاډي ته د افغان اېکسپرېس نوم غوره شو، دا چې په استرالیا کې افغانان د ګان یا غان په نامه یادېدل، وروسته ورته د غان اېسکسپرېس نوم کېښودل شو، په وروستي ځل دا نوم نور هم رالنډ او د غان په نامه ونومول شو، چې اوس هم په همدې نوم یادېږي. غان اورګاډی د استرالیا له یو سره تر بله سره پورې یعنې له اډیلیډه تر داروینه پورې درې زره کیلو متره لاره وهي او په درې ورځو کې تر بل سره رسېږي. دا هغه لاره ده چې افغان اوښبنو به له خپلو اوښانو سره پرې اوږده مزلونه کول.



افغانانو په استراليا هېواد کې ډېر ښه نوم او نښان پرېښی دی، اوس هم ډېر مهم ځايونه لکه: افغان پل، کامران څاه، بې جا غونډی، سعاالدين روډ، خالق کوڅه... د اوښبه افغانانو په نامه يادېږي.

که څېړې افغانان نه وای ورغلي، اوس به استراليا پنځوس کاله وروسته پاتې وای، دا افغانان وو چې د استراليا په جوړونه کې يې بنسټيز رول ادا کړ او د پرمختګ تر پوړيو يې ورسوله. دا چې تاريخ انګريزانو ليکلی دی، دوی هغه قومونه چې په دې لويه وچه کې يې نه ستړي کېدونکي خدمتونه کړي دي، د تاريخ له پاڼو ايستلي دي او يوازې خپل ځانونه يې د پرمختګ اتلان بللي دي؛ مګر بيا هم په استراليا کې سمه او غر په دې ګويا دي چې دلته د دنيا له هاغه بل سره يعنې افغانستان څخه شډل بډل خلک له خپلو ارتو جامو او پګړيو سره دې خاورې ته له خپلو اوښانو سره راغلل، چې د دې هېواد دښتې يې ابادې او د خلکو ژوند ته يې هوساينه راوسته.

افغانان چې د نورو هېوادونو برخليک بدلولی شي؛ نو که وغواړي، د خدای ورکړې وړتيا او زيار په زور خپل هېواد هم ډېر ژر ابادولای او د نړۍ سيال کولی شي او لرې نه ده چې د عصري ټيکنالوژۍ څخه په ګټه اخيستنه به دا هېواد اباد او نړيوالو ته به ښکاره کړي چې مونږ د خپل هېواد د جوړېدلو اتلان هم کېدلای شو.




## اخيستنې:

۱ ـ امين، پوهاند حميدالله. افغانان په استراليا کې. سهر مطبعه، دويم چاپ، ۱۳۹۵ ل
۲ ـ د استراليا اوښبه افغانان. د بي بي سي راډيويي خپرونو لړۍ.
۳ ـ استراليا کې د افغانانو تاريخ. د استراليا اس بي اس راډيو پښتو خپرونه.
۴ ـ خيري، همايون. د افغانانو په ياد د استراليا «غان» ريلګاډی. تاند ويبپاڼه. ۳۰/۹/۲۰۲۳. http://surl.li/rdsxj

# نقش ترانسپورت
# در رشد و توسعه اقتصاد جامعه

محمدالله دردمنش
(مشاور تخنیکی ترانسپورت جاده‌ای)

ترانسپورت یا حمل و نقل یکي از اجزاء مهم رشد اقتصاد است که به سبب داشتن نقش ارزنده تأثیر فراوانی بر توسعه و شکوفانی یک کشور دارد. این بخش در برگیرنده چنان فعالیت‌های است که به شکل گسترده در تمامی زمینه‌های تولید، توزیع، مصرف کالاها و خدمات جریان داشته، در مجموعه فعالیت‌های اقتصادی نقش غیرقابل انکار دارد. برخی متخصصان بر این باور اند که بین حمل و نقل و کارآیی عمومی رشد اقتصادی رابطه‌ای مستقیم وجود دارد و حمل و نقل را وسیله ارتباط میان فعالیت‌های زراعتی، صنعتی، تجارتی و خدماتی در سطح ملی و بین‌المللی می‌پندارند. بعضی هم، ترانسپورت را یگانه کلید رشد اقتصادی، ارتقای سطح تعلیمی، حفظ سلامتی و تبادله فرهنگ‌ها در جوامع بشری محسوب می‌نمایند.
گروهی دیگر، حمل و نقل را قلب جریان توسعه دانسته و معتقد اند که حمل و نقل در توزیع درآمدها و تعادل در نابرابری‌های اقتصادی و اجتماعی و کاهش فقر و اختلاف درآمد روستانشینان و شهرنشینان نقشی موثر دارد. مطالعات انجام شده درسطح بزرگ اقتصادی برخی کشورها نشان می‌دهد که
سرمایه‌گذاری در حمل و نقل باعث افزایش رشد اقتصاد کشورها شده و با افزودن بر بازدهی اجتماعی در سرمایه‌گذاری‌های خصوصی موجب سرمایه‌گذاری در زیرساخت‌های حمل و نقل شده است. بناً، حمل و نقل پَل ارتباط است که بخش‌های مختلف جوامع بشری را با عبور از آن، به سمت توسعه پایدار حرکت میدهد، از این‌رو براي پلانگذاری‌های آینده، بررسی جایگاه ترانسپورت، پتانسیل موجود، شناخت کمبودی‌ها
و مشکلات مربوطه با توجه به پالیسی‌های جهانی از اقدامات ضروری و اولیه می‌باشد. گرچه هزینه حمل و نقل در قیمت تمام شد کالاها در کشورهای توسعه یافته و درحال رشد پنج درصد محاسبه شده است، با آن هم کاهش هزینه حمل و نقل موازی با کاهش هزینه عرضه کالای تولیدی به بازارهای مصرفی نقش زیادی در توان رقابت و گسترش سایر بخش‌های اقتصادی از جمله تجارت و زراعت و در نهایت اقتصاد ملی دارد. فهذا لزوم بر سرمایه‌گذاری برای توسعه زیربناها، تجدید تاسیسات و نگهداری آن، معیاری سازی نهادها و تجهیزات موجود از طریق ارتقای کیفیت فنی و دانش مدیریت سیستم‌های حمل و نقل، تاکید می‌گردد. تاجای که وضعیت حمل و نقل به کشور ما ارتباط می‌گیرد، این پدیده طی دوران‌های متنوع فراز و فرودهای مختلف سیاسی نظامی را متقبل شده، نه تنها مجال رشد به آن داده نشده بلکه بیش از پیش خساره‌مند گردیده. گرچه در گذشته هدف اصلی مدیران ترانسپورت تلاش برای رسیدن به جایگاه مطلوب و فردای بهتر بوده اما پالیسی‌های ناقص در کوتاه مدت باعث گردیده تا زمینه برای تعیین یک خط و مشی پایدار و واحد فراهم شده نتواند. اکنون با توجه به موقعیت جیوپولتیک افغانستان در منطقه، مساعد بودن شرایط کاری، سرمایه‌گذاری برای ایجاد سیستم حمل و نقل کارآمد، زیر بناهای معیاری و تاسیسات ترانسپورتی معاصر به هدف ترانسپورت و ترانزیت منطقوی الزامی می‌باشد. در حال حاضر (کریدور) یا دهلیز ترانسپورتی شمال به جنوب امکان مناسبی را برای ترانزیت کالاهای تجارتی از طریق افغانستان مهیا کرده است.

ضمناً جاده (واخان) یکی از بااهمیت‌ترین راهی است که نه تنها کشور چین را با کشورهای شرق میانه وصل می‌نماید بلکه پنجاه درصد هزینه‌های ترانسپورتی را برای کشورهای منطقه کاهش می دهد و مسئولان در تلاش اند تا با اجرای این پروژه و سائر پروژه‌های مختلف جاده‌یی گام‌های موثری در توسعه اقتصاد ملی کشور بردارند اما تعمیل پروژه‌ها به زمان نیاز دارند. به هر صورت در میان روش‌های مختلف ترانسپورتی، حمل و نقل ریلی از مزایای چون مصرف سوخت کمتر، سازگاری بهتر با محیط زیست، ایمنی بالاتر، قابلیت انتقال انبوه کالا و مسافر و راحتی سفر برخوردار است اما متاسفانه که ما تا هنوز به آن فایق نیامده ایم. در شرایط معاصر، از جانب کشورها به بخش حمل و نقل توجه خاصی صورت می‌گیرد و همواره سعی بر آن است تا از مناسب‌ترین سیستم که از نظر اقتصادی کم هزینه، از روزنه زمانی در برگیرنده وقت کم و از لحاظ رفاه و آسایش دارای تجهیزات و امکانات مدرن برای راحتی مسافرین و ایمنی بیشتر باشد، استفاده شود و در تلاش اند تا مسیرهای برای حمل و نقل کالاها انتخاب شوند که قابلیت‌های مناسبی برای بهره‌برداری بیشتر در عرصه تجارت و ترانزیت باشد. یکی از بخش‌های بزرگ و با مخاطب حمل و نقل، ترانسپورت عامه است که نیازمند به سازماندهی است، طوریکه حمل و نقل عامه شهری هفتاد درصد تمام حمل و نقل عمومی کشور را تشکیل می‌دهد و با وجود گستردگی و سهم بالای که در جا به جایی و انتقال مردم دارد، از نبود مدیریت واحد و نداشتن یک متولی خاص رنج می‌برد. من به مثابه یک کارشناس حمل و نقل جاده‌ای معتقدم که سی درصد از انتقالات در کشور مربوط به حمل و نقل برون شهری و هفتاد درصد حمل و نقل همگانی در حوزه‌های داخل شهرها است، گرچه حمل و نقل عمومی داخل شهری اعم از تکسی‌رانی و بس‌رانی زیر نظر وزارت ترانسپورت و هوانوردی دارای نهادهای بخصوص خود هستند ولی هیچ یک از این نهاد ها دارای وسایط نقلیه یکسان و معیاری شهری نبوده و یا هم دارای یک متولی خاص نمی‌باشند، چنانچه شرکت ملی بس با چند عراده واسطه نیمه فعال که دارد، تحت قیمومیت وزارت مالیه فعالیت دارد و در کنار آن شاروالی کابل نیز یک تعداد از وسایط غیرشهری ویا نظامی را درشهر کابل شامل این پروسه نموده است. در اغلب کشورهای دنیا، حمل و نقل دارای یک سازمان پاسخگو و متولی واحد دولتی است، که از ابتدای ورود یک واسطه نقلیه به کشور الی خروج آن از رده ترانسپورت مسئول سازماندهی و پیگیری مشکلات آن‌ها استند. مدیریت واحد و یک پارچه در عرصه حمل و نقل می‌تواند تاثیرگذار باشد و بدون اینکه یک اداره غیر متخصص بدون دانش افراد مسلکی سد راه پروژه قرارگیرد، پروژه به سهولت و سرعت عملی می‌گردد و شهروندان را زیر پوشش قرار می‌دهد تجربه مدیریت واحد در خیلی از کشورهای دنیا وجود دارد، این سیستم و مدیریت آن موفقیت‌های را از بابت ورود وسایط نقلیه در کشور با درنظرداشت موثریت اقتصادی، انتخاب و توظیف وسایط در مسیر نظر به شرایط بهره‌برداری، احداث جاده‌ها مطابق به خصوصیات تخنیکی وسایط، بررسی تخنیکی از وضعیت ایمنی وسایط ، تنظیم حرکت وسایط روی جاده، خروج وسایط از رده ترانسپورت نظر به وضعیت تخنیکی آن، حرمت گذاشتن به مسافرین و انتقال همزمان آن‌ها از روی جاده رضایت‌مندی شهروندان را به دنبال داشته است. ایجاد مدیریت متمرکز در محوریت وزارت ترانسپورت و هوانوردی برای تمامی واحدهای که هم اکنون به عنوان جزیره‌های ترانسپورتی به قسم جداگانه و یا تحت قیمومیت یک وزارت/ اداره غیر مسلکی دیگر فعالیت دارند یک ضرورت است، پشتیبانی از مدیریت واحد متضمن رشد و توسعه ترانسپورت و تحول عظیم در حوزه حمل و نقل عمومی و افزایش رضایت‌مندی مردم می‌گردد. بنابر این به نظر می‌رسد و وقت آن رسیده است که بخش بزرگ و با مخاطب حمل و نقل کشور انسجام و سازماندهی شده و به دست یک متولی واحد و مرجع قانونی هدایت شود.



# د رېکشاوو لنډه تاریخچه

رېکشه چې د نورو لېږدوونکو وسېلو خلاف په دريو ټايرونو تګ کوي، د هغو هېوادونو لپاره چې له کمزوري اقتصاد سره مخ دي، تر ټکسي ارزانه او اقتصادي وسيله بلل کېږي. ويل کېږي چې د رېکشې د نوم رېښه د جاپانی ژبې د (جينزيکشا) څخه راوتلې ده او هغه لېږدوونکې وسيلې ته ويل کېږي، چې په انساني ځواک سره حرکت کوي. لومړنۍ رېکشا ځوله وسيله داسې جوړه شوه، چې دوه لرګين څرخونه يې درلودل او د دريم څرخ پر ځای يې کس و، چې دا وسيله به يې کشوله او شاته يې يوه چوکۍ درلوده چې دوه يا درې کسان پکې ځايېدل. ويل کېږي دا وسيله په هند کې ډېره کارېدله چې د يوه سړي له خوا به کشول کېده او خلک به يې له يو ځای څخه بل ځای ته لېږدول.



وروسته يې يو څه پرمختګ وکړ او د بايسکل په څېر ورته پايډل ولګول شو، چې په لومړيو کې به يوازې اشراف پکې له يو ځای څخه بل ځای ته تلل،چې د وخت په تېرېدو سره يې پرمختګ وکړ، ماشين او ربړي ټايرونه ورته ولګول شول. اوس‌مهال دا وسيله په هند، پاکستان، نيپال، بنګله‌دېش، فليپين، سرېلانکا او ورپسې په افغانستان او نورو هغو هېوادونو کې چې هوا يې ګرمه يا يو څه معتدله وي او د وګړو اقتصادي حالت ښه نه وي، ترې زِياته ګټه اخيستل کېږي.

افغانستان ته په لومړي ځل د ۱۳۴۰ ل لسيزې په وروستيو کې د يو افغان سوداګر محمد عارف له خوا شپاړس رېکشې د ايټاليا هېواد څخه وارد کړای شوې. دا چې هغه وخت د موټرو شمېر کم و؛ نو د خلکو ډېر مشکلات ورسره حل کېدل او يوه ارزانه او له آس‌ګاډو څخه ګړندۍ وسيله وه. که څه هم دا رېکشاوې د لوګي او لوړ اواز له کبله د چاپېريال په زيان وې؛ خو هغه مهال چې د کابل ښار پاکه هوا او له دوړو او غباره پاک، تک شين اسمان درلود، چاپېريال ساتنې ته دومره پاملرنه نه کېدله. هغه مهال دې رېکشاوو ته د کابل سوېل لور يعنې د (قلعچې) سيمې څخه تر پامير سينما پورې، د ميوند واټ پر لاره مسير ټاکل شوی و.
دا چې رېکشاوو تر نورو موټرو کرايه کمه اخېسته، د ډېرو بې وزلو هېوادونو د خوښې وړ وسيله شوه او د لا پرمختګ لپاره يې په ډېزاينونو کې بدلون راغی او له دې سره په نوي ډيزاين کې داسې رېکشې جوړې شوې چې هم يې لوګی کم و او هم يې غږ.

دا چې رېکشا د سپرلیو په وړلو کې اقتصادي وسیله وه، نو د بار وړلو لپاره یې هم فکر پیدا شو او موټر سایکل ته باډۍ وروتړل شوه او زموږ هېواد کې یې د زرنج په نوم شهرت وموند. ویل کېږي زرنج ځکه ورته وایي چې د نیمروز ولایت د زرنج په ښار کې دسته بندي شوي دي.



همدارنګه څو کاله وړاندې په هېواد د ننه په جلال‌اباد ښار کې د سټرینګ والا دري سلنډره رېکشه‌جوړونې چارې پیل شوې، د دې رېکشو ډیزاین ښه و او تر نورو رېکشو لویې او سپرلۍ هم پکې زیاتې ځایېدې؛ خو د متخصصانو په وینا ستونزه یې دا وه چې سرعت یې زیات و او د اسانه چپه کېدو وېره یې زیاته وه. ځینې له زړو اوسپنو جوړېدې او د الټو ماشین پکې ځای پر ځای کېده، چې سټنډرډ نه وې.

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزرات تخنیکي سلاکار انجنیر محمدالله دردمنش وایي: "موږ په ۱۳۸۲ل کال دا رېکشه وازمویله، چې سرعت یې زیات او د ځینو نورو ستونزو په ګوته کولو سره مو د فعالیت اجازه ورنه‌کړه؛ خو وروسته دا رېکشه ارګ ته یووړل شوه، د هغه وخت حکومتي چارواکو پر ځای د دې چې کارکوونکي معیار ته متوجې کړي، د دوی کارونه یې وستایل، کار او فعالیت ته یې اجازه ورکړه"

اوسنۍ رېکشې چې یو څه په نوي سیسټم جوړې شوې دي، له هند هېواد څخه راځي او دسته بندي یې په ځینو ولایتونو کې کېږي، دا رېکشې تر نورو هغو سټنډرډ او معیاري دي؛ ځکه چې یو سلنډر لري او د هوا په ککړتیا باندې یې تأثیر لږ دی، اوس مهال د افغانستان په بېلابېلو ښارونو کې ګڼ شمېر رېکشې فعالیت کوي، په جلاباد ښار کې زرګونه رېکشې ثبت او تر زرګونو نورې یې بې اسنادو فعالیت کوي او همدارنګه په کابل ښار کې هم څو زره بې اسنادو رېکشاوې فعالیت کوي، څرنګه چې رېکشاوې په لویو ښارونو کې ګڼه ګوڼه جوړوي او د سړکونو د بندېدو لامل ګرځي، نو له‌دې کبله په عمومي واټونو کې ورته د تګ راتګ اجازه نه ورکول کېږي، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له لورې رېکشاوو ته د کورنیو د اقتصاد تأمینولو په پار ځانګړي مسیرونه ټاکل شوي دي. رېکشاوې که هر څومره اقتصادي وي مګر سرعت او ظرفیت یې کم او لکه د نورو موټرو ډېرې نورې اسانتیاوې او خوندیتوب نه لري، دا چې نړۍ له ورځې بلې ته د پرمختګ پر لور روانه ده او هر څومره چې پر مختګ راځي، هومره د سرعت، اسانتیاوو او خوندیتوب فکر پیدا کېږي، چې رېکشاوې بیا له دې اسانتیاوو څخه نه دي برخمنې؛ خو له دې سره بیا هم هغه هېوادونه چې د وګړو اقصاد یې کمزورۍ او سړکونه یې پراخه نه وي، رېکشا ورته ګټوره او غوره ښاري ټرانسپورټي وسیله ده.



# موټر او ټکر



حکمت‌الله آصفي

انسانانو چې کله عصري ټرانسپورټ ته مخه کړه او له غوښنو څلورپښو درلودونکو حیواناتو څخه یې اوسپنیزو د لویو ټایرونو موټرو ته پرمختګ وکړ، د دوی د ژوند اسانتیاوې ورسره زیاتې او په ژوند کې یې ګړندی پرمختګ رامنځته شو. خپلو منزلونو ته ژر رسېدل او زیات سوداګریز توکې یې له یو ځای نه بل ځای ته په ګړندي او خوندي توګه لېږدېدل، د وخت ضایع کېدو څخه مخنیوی کېده، د بېلابېلو سیمو انسانانو تر منځ سوداګریزې، فرهنګي او ټولنیزې اړیکې سره ونښلول شوې او په نړۍ کې د انسانانو د هوساینې او پرمختګ لامل وګرځېد؛ خو له دې سره دا موټر چې سرعت یې لوړ او له اوسپنې جوړ شوی دی، داسې یو چلوونکي ته اړتیا لري، چې روغتیايي حالت یې ښه او د موټر له تخنیک سره یو څه بلدتیا ولري او دا وسیله چې کوم ډول لارو او سړکونو ته اړتیا لري، باید په همغه ډول لارې ورته جوړې شي... دا چې دا وسیله د انسانانو د هوساینې لپاره جوړه شوې؛ خو کله داسې هم کېږي، چې د ټرافیکي اصولو د نه مراعت کولو له کبله د انسان د مرګ لامل شي او د هوساینې پر ځای ترې ژوند واخلي... لومړۍ ټرافیکي پېښه له نن څخه ۱۵۵ کاله وړاندې یعنې د موټر له جوړېدو سل کاله وروسته رامنځته شوه، چې د یو ساینس‌پوه د وژلو لامل شوه.

پېښه داسې وه چې په ۱۸۶۹ز کال د میري وارډ په نوم یو ایرلینډی ساینس‌پوه د سړک له غاړې د تېرېدو پر مهال د خپل موټر څخه چې د بخار په واسطه چلېده، وغورځېد، د موټر څرخ یې پر غاړه تېر او ځای پر ځای مړ شو. خو کله چې د موټرو په ډیزاینونو او سرعت کې پرمختګ راغی، ټرافیکي پېښې هم ورسره زیاتې شوې.

ټرافيکي پېښه هغې پېښې ته ويل کېږي چې د موټر، پلي، بايسکل چلوونکي... يا په سړک کې کوم بل شي سره د ټکر له امله پېښېږي. دا پېښې کېدای شي د کوچنيو ټکرونو څخه تر لويو ټکرونو پورې وي، چې پايله کې يې مرګ ژوبله رامنځته کېږي. ټرافيکي پېښې د بېلابېلو دلايلو له امله رامنځته کېدای شي لکه د موټر چلونکي تېروتنه، د موټر تخنيکي ستونزې، د هوا ناوړه شرايط، د سړک وضعيت او داسې نور. د دغو پېښو څخه د مخنيوي او خونديتوب لپاره تر ټولو چې ډېر مهم دی، هغه احتياط او پاملرنه ده.

د ټرافيکي پېښو له امله د انساني تلفاتو شمېر هرکال او هېوادونو ته په پام يو له بل څخه توپير لري. خو په ټوليز ډول، د روغتيا نړيوال سازمان (WHO) په وينا، د ټرافيکي پېښو مرګ ژوبله په ټوله نړۍ کې د مړينې يو له سترو لاملونو څخه ګڼل کېږي، چې په کال کې نږدې ۱,۳۵ ميليونه وګړو څخه ژوند اخلي، چې دا په منځني ډول هره ورځ ۳۷۰۰ تنو د مړينې شودنه کوي. همدارنګه د ټرافيکي پېښو له امله هر کال د مړينو تر څنګ په ميليونونو کسان ټپيان او معيوب کېږي. د دې تلفاتو ډېری برخه په ټيټ او منځني عايد لرونکو هېوادونو کې پېښېږي؛ ځکه چې په داسې هېوادونو کې سړکونه او ټرانسپورټي سيستم معياري نه وي.

په افغانستان کې د ۱۴۰۲ل کال په لومړيو دريو مياشتو کې د ټرافيکي پېښو د احصايې له مخې تر اوسه په ټول هېواد کې له ٦٠٠ ډېرې ټرافيکې پېښې رامنځته شوې دي، چې له امله يې نږدې ۴۰۰ تنو خپل ژوند بايللی او څه باندې ۹۰۰ تنه نور ټپيان شوي دي.

د پورته شمېرو په دوام ويلای شو، چې په منځني ډول د يو کال په موده کې ۲۴۰۰ ټرافيکي پېښې کېږي، په افغانستان کې د ټرافيکي پېښو عمده لاملونه د لويو لارو خرابوالی، د موټرچلوونکو بې احتياطي او د ټرافيکي قوانينو نه مراعتول شودل کېږي. د ټرافيکي پېښو ځينې عمده لاملونه په لاندې ډول شودل کېږي:

له قوانينو سرغړونه: د ټرافيکي پېښو اصلي لاملونه د ټرافيکي قوانينو تر پښو لاندې کول دي.

په بې پامۍ موټر چلول: موټرچلوونکی هغه څوک دی چې لږه بې پامي يې هم د لسګونو کسانو ژوند او روغتيا اخلي او بې پامه موټر چلوونکي تر ټولو زياتې ټرافيکي پېښې کوي. دوی په پوره پاملرنه موټر نه چلوي، په موبايل ټليفون خبرې کوي او ځان ورسره بوختوي، خوراک کوي او يا په نورو داسې کړنو ځان بوختوي چې پام يې له موټرچلولو بلې خوا اوړي.

لوړ سرعت: پر نامناسبه سړک باندې په لوړ سرعت سره موټر ځغلول هم د ټرافيکي پېښو لامل کېږي.

د نشې يا ذهني اختلال پر وخت موټر چلول: د چرسو، پوډرو او نورو نشيي توکو د کارونې پر مهال موټر چلول د چلوونکي د چټک غبرګون په برخه کې وړتيا کموي، چې دا هم د ټرافيکي پېښو له اصلي لاملونو څخه دي.

خرابه هوا يا د سړک شرايط: باران، واوره، کنګل او خراب موسم کولای شي، چې موټر چلونه ستونزمنه کړي او د ټرافيکي پېښو لامل وګرځي.

**د موټر تخنیکي ستونزې:** په موټر کې د بریکونو، ټایرونو، سټېرینګ یا د موټر په نورو برخو کې که کومه تخنیکي ستونزه وي، دا هم د ټرافیکي پېښو لامل کېږي.
موټر چلوونکي باید دې ټولو یاد شویو واردو ته جدي پاملرنه وکړي او هغه څه چې د پېښو لامل ګرځي باید په مکمله توګه ترې ډډه وکړي. افغانستان چې جګړو ځپلی هېواد دی او ډېری ځوانانو یې د جګړو له کبله خپلې ځوانی له لاسه ورکړې، په اوسنی کې یو خبر اورو چې په کومه سیمه کې ټرافیکي پېښه شوې او مرګ ژوبله یې رامنځته کړې ده. په اخترونو او ودونو کې د ځوانانو موټرځغلونه ښادی په غم لړلای شي، راپورونه وايي، چې له ۱۴۰۱ څخه په ۱۴۰۲ کال کې ټرافیکي پیښې زیاتې وې. د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت ټرافیکي پېښو د مخنیوي او مسافرو د خوندیتوب په موخه د موټرو تخنیکي چک ترسره کوي، د واټ ټرانسپورټ د تخنیک ریاست له لورې په ۱۴۰۲ل کال کې تر څوارلسو زرو زیاتو موټرو تخنیکي چک ترسره شوی، چې په دې لړ کې د څه کم یوولس سوو موټرو چې تخنیکي ستونزه یې درلوده، فعالیت ځنډول شوی دی. لویو مسافروړونکو او باروړونکو موټر کې چې په لویو لارو تګ راتګ کوي، د دوی سرعت کنټرول په موخه د جي پي ایس لګولو لړی روانه ده او همدارنګه یاد وزارت هغو مسافروړونکو موټرو ته چې دروازه یې د افغانستان ټرافیکي اصولو خلاف خلاصېږي، څو میاشتې وخت ټاکلی چې باید خپلې دروازې بدلې کړي. چې په دې سره د ډېرو ټرافیکي پېښو مخنیوی کېدای شي او د مسافرو د خوندیتوب لامل ګرځي.





# باد او هوا

مفتي عزيزالرحمن " عزيزي "

له ادمه تر دې دمه که چیرې خپل تېر ژوند وڅارو، هر انسان ټولنیز ژوند ته او بیا ټولنه ډېر څه ته اړتیا لري، په ځانګړې توګه هغه څلورو عناصرو ته خورا اړتیا ده چې زموږ ژوند ورپورې تړلی دی. چې په هغه کې اوبه، خاوره، هوا، او اور شامل دي، چې په دې کې هوا له هغو اړینو عناصرو څخه بلل کېږي چې له دې پرته ژوند امکان نه لري. باد او هوا په ټولو چارو کې مهم رول لري، باد د فضا له لارې د هوا حرکت دی یعنې هوا ته حرکت ورکوي. (تفسير القرطبي ۲/ ۱۹۹)

په باد سره یخني او ګرمي له یو ځای څخه بل ځای ته لېږدل کېږي، د نباتاتو په وده کې مهم رول لري، میوه لرونکې ونې پرې بارداره کېږي. که چېرې یو ساعت هوا ودرېږي، د ځمکې او اسمان تر منځ به هر څه بد بوی ونیسي. په قرآن کریم کې د باد په اړه دوه نومونه (ریاح) او (ریح) کارول شوي، د ریاح نوم د هغو بادونو لپاره کارول شوی، چې زېری پکې نغښتی وي او ریح له یونس سورت څخه پرته هغه باد ته ویل شوی، چې د عذاب څخه ډک وي. کله به چې باد راوالوت؛ نو پیغمبرﷺ به دا دعا کوله: اللَّهُمَّ اجْعَلْهَا رِيَاحًا وَلَا تَجْعَلْهَا رِيحًا.ژباړه: "ای الله دغه بادونه وګرځوه او باد يې مه ګرځوه" دلته مطلب دادی چې باد په جمعې سره راشي د رحمت معنا ورکوي او که په مفرد سره راشي د عذاب معنا ورکوي." (تفسير القرطبي)

یعقوب علیه‌السلام چې د خپل زوی په بیلتون کې یې خورا زیات دردونه او ستونزې وګاللې او د زوی په جدایۍ کې یې دومره اوښکې توی کړې، چې آن د سترګو دید یې هم له منځه ولاړ؛ خو کله چې د بیلتون شپې اوږدې شوې یوسف علیه‌السلام خپلو وروڼو ته کمیس ورکړ او د کنعان په لورې یې رخصت کړل. د مفسیرینو په وینا دا واټن د اتو فرسخو او یا اتو ورځو مسیر په اندازه و، چې د خپل زوی بوی یې حس کړ؛ نو سمدلاسه یې خپلو لمسیانو او یا ناستو خلکو ته وویل: ماته د خپل زوی خوشبوداره وږمه راغله. مالک بن انس رضی الله عنه وايي: یعقوب علیه السلام ته هغه باد وږمه راوړه کوم باد چې سلیمان علیه السلام ته د سترګو په رپ سره د بلقیس تخت راوړ. (تفسير مدارک ۲ / ۱۳۳ او تفسيرالقرطبي ۹/ ۲۶۰)

د لرې واټن څخه د باد په توسط د یوسف علیه السلام وږمه راوړل او د خپل پلار سپوږمیو ته یې رسول معجزه ده.

لکه څرنګه چې موسمونو کې بدلون راځي، دغه راز بادونو او هواګانو کې هم بدلون راځي، چې تفاسيرو د بادونو لپاره لس ډولونه راوړي: صبا چې ګرم او وچ باد دی، دغه باد ته د ښيګڼې باد وايي، د ختيځ څخه لويديځ ته روان وي.
عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: (نُصِرْتُ (٣) بِالصَّبَا وَأُهْلِكَتْ عَادٌ بِالدَّبُورِ).
پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايي: د احزاب په غزا کې زموږ مرسته په صبا باد سره وشوه او په دبور باد سره عاديان هلاک شول. (تفسيرالقرطبي ۲/ ۱۹۷)
دبور باد چې يخ او لوند باد دی د لويديځ څخه ختيځ لور ته راپورته کېږي.



بل يې داسې هم شته چې له سوېل څخه شمال او شمال څخه سوېل لور ته روان وي، دبور باد ګرم او دا يې يخ او وچ دی. تېز باد چې عاصف ورته ويل کېږي، هلاکوونکی او هر څه له مينځه وړونکی دی. حصباء باد چې تيږې له ځان سره وړي. بل باد چې موږ يې بړبوکی بولو او په عمودي ډول د اسمان لور ته پورته کېږي. همدا رنګه د سموم، وهم او صرصر په نامه بادونه هم شته. (تفسيرالقرطبي او عزيزالتفاسير) په باد کې يو ستر قووت دی، چې عاديانو په څېر قومونه يې هلاک او سترې ماڼۍ يې نړولي. بي بي عايشه رضی الله عنها فرمايي: باد او وريځې په لېدو به د رسولﷺ رنګ مبارک کې بدلون راغی؛ خو کله به چې باران پيل وکړ خوښ به شو. د باد او هوا د وريځو په وړلو راوړلو، باران کولو، کښتۍ روانولو او همداراز الوتنه کې رغنده رول لري.

الله ﷻ په خپل کتاب کې وایي: إِن يَشَأْ يُسْكِنِ الرِّيحَ فَيَظْلَلْنَ رَوَاكِدَ عَلَىٰ ظَهْرِهِ ژباړه: که الله وغواړي باد به غلی کړي او دوی (کښتۍ) به د سمندر پر شا تپ ولاړې پاتې شي. [سُورَةُ الشُّورَىٰ : ۳۳]
همداراز د الوتکو جوړښت لومړی د مرغانو له خلقیت څخه شوی او مرغان هم د هوا په توسط په خپلو وزرو او لکۍ الوځي: أَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرَاتٍ فِي جَوِّ السَّمَاءِ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا اللَّهُ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ." ایا دغو خلکو کله الوتونکو ته نه دي کتلي چې په اسماني فضا کې په څه شان مسخر دي؟ دوی له الله څخه پرته چا ساتلي دي؟ په دې کې د هغو کسانو لپاره ډېرې نښې نښانې شته چې ایمان راوړي. (سُورَةُ النَّحل ۷۹) د غشي په نښه ویشتلو کې هم مهم رول د بڼکو وي چې په وروستۍ برخه کې ورته لګېدلې وي، همداراز یو کاغذباد هم په جوړښت کې د مارغه په څېر وي وزرې لري، لکۍ ورکړل شوې وي څومره چې پورته کېږي هغومره سپکېږي او هوا کوي. الوتکې هم چې الوتنه کوي بنسټیز لامل یې هوا دی، هرڅومره یې چې لوړوالی ډېر وي ، وزن یې کمېږي؛ ځکه چې له زمونږ پورته هوا لږه ده، د تودوخې درجه هم د هوا د پراخېدو او کثافت له لاسه ورکولو لامل کېږي؛ نو لکه څنګه چې د لوړوالي سره، د تودوخې درجه لوړه وي، فشار یې ټیټ وي. د عمرې په سفر روان وم د الوتکې یو خادم چې اتلس کاله یې دنده ترسره کړې وه، هغه راته کړه: اوس چې په کومه فضا کې مونږ روان یو، د تودوخې درجه یې خورا لوړه ده؛ نو ما ورته وویل په الوتکه کې اکسیجن له کومه کېږي، هغه راته وویل چې پهخپله الوتکه کې اکسیجن تولیدېږي. د الوتکې ښکته او پورته کېدل په ثابتو وزرو کېږي په دې کې یو ډول څرخونه دي چې هر لور ته یې تاو کړي الوتکه هم ورسره تاوېږي؛ نو له دې څخه څرګنده شوه، دا څه چې په هوا کې خوځښت کوي د هوا او باد په واسطه ترسره کېږي.
باد او هوا دواړه د الله ﷻ په قدرت کې دي، کله رحمت او کله عذاب شي.







- په لومړي ځل د فراه ولایت او ایران ترمنځ د ټکسي چلوونې ځانګه پرانېستل شوه
- ترینکوټ هوایي ډګر څخه د چاپېربدونکي دیوال پروژه پیل شوه
- په روان کال کې څه کم څلور زره موټرو ته ټرانسپورټي اسناد وېشل شوي
- د دریو لویو پروژو تړونونه لاسلیک شول
- د سیرت النبي درسونو ارزونه وشوه
- له کابل څخه خوست نړیوال هوایي ډګر ته لومړنی الوتنه تر سره شوه
- فراه کې د مسافروړونکو موټرو ترمینل بنسټ ډبره کېښودل شوه

- د هرات واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست د جومات بیارغونه
- د واخان پر درې ارخیز څمکني او ریلي دهلېز ناسته ترسره شوه
- کابل نړیوال هوایي ډګر کې د پلو لارو جوړول
- د هواپېژندنې دیوې نوې دستګاه لګول
- له اویاوو څخه پر زیاتو پروژو کار روان دی
- له متحده عربي اماراتو څخه بلخ ته کارګو الوتنې پیل شوې
- د فیض‌اباد هوایي ډګر د څفاستلیکې بیارغونه
- د کابل نړیوال هوایي ډګر بهرنې ترمینل د بام بیارغونه
- له ۵۰ زیاتو ټرانسپورټي شرکتونو ته د فعالیت اجازه لیکونه ورکړل شوي



- میمنې هوایي ډګر کې د لمریزې برېښنا سیستم فعال شو
- پروسه چک تخنیک در راستای معیاری سازی وسایط ترانسپورتی نقش موثر ایفا کرده است
- برنامه های حضوری که از طرف ریاست هواشناسی طی سال جاری گرفته شده اند قرار ذیل میباشند:
- په ۱۴۰۲ کال کې څه باندې ۸۰ زره موټر ثبت شوي
- بیش از ۱۰۰ سمینار برای کارمندان وزارت ترانسپورت و هوانوردی برگزار شده است
- **بهرنې سفرونه**
- **هډې او ترمینلونه**
- د هوایي چلند انستیټیوټ

- د مسافروړونکو موټرو د دروازو بدلولو ګڼ پلان لاسليک شو
- پکتيکا ولايت انګور هډه کې د واټ ټرانسپورټ ودانۍ
- فراه هوايي ډګر کې د کانال جوړېدل
- فيض‌اباد هوايي ډګر کې د بيا رغونې چارې
- د خوست واټ ټرانسپورټ تنظيم رياست ته د نوې ودانۍ جوړولو چارې پيل شوې
- ايرالعربيه هوايي شرکت کابل نړيوال هوايي ډګر ته الوتنې پيل کړې
- د خوست هوايي ډګر څغاستليکې دواړو خواو د رغونې پروژه پيل شوه
- کندوز ولايت شېرخان بندر کې د يوې پروژې چارې پيل شوې

# کړنې او لاسته راوړنې

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ۱۴۰۲ کال په دريېمه ربع کې چې کومې کړنې، لاسته راوړنې او همدارنګه نورې د ډېر ارزښت وړ چارې ترسره شوې دي، ځينې يې دلته په لنډ ډول لوستلی شئ!

- د ايران له سفير سره په ټرانسپورټي پراختيا خبرې وشوې
- کابل نړيوال هوايي ډګر کې د دوو پروژو چارې پيل شوې
- غزني کې د نا قانوني ټرانسپورټي اتحاديو فعاليت وځنډول شو
- د هرات واټ ټرانسپورټ تنظيم رياست اداري ودانۍ د بيارغونې پروژه بشپړه شوه
- په کابل کې د باروړونکو موټرو لپاره ترمينل او نوبت سيسټم فعال شو
- مزار شريف ته د يزد هوايي شرکت د الوتنو پيل
- خوست نړيوال هوايي ډګر څخه العين ته الوتنې پيل شوې
- بلخ ولايت کې تر درې زرو زيات برېښنايي کارتونه او کتابچې وېشل شوي

## په حیرتان بندر کې له ازبکستاني پلاوي سره ناسته ترسره شوه



د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت مالي او اداري معین حافظ صدیق‌الله عابد د اسلامي امارت د یو پلاوي په ملتیا چې د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت، د صنعت او سوداګرۍ، مالیې، بهرنیو چارو، د کانونو او پټرولیم وزارتونو او اوسپنې پټلۍ اداري استازو پکې ګډون درلوده، د ازبکستان له لوړپوړي پلاوي سره ناسته ترسره کړه.

په دغه ناسته کې چې د بلخ ولایت د حیرتان بندر کې ترسره شوه او د بلخ ولایت والي هم پکې برخه درلوده، له ازبکستاني پلاوي سره د نړیوال ټرانسپورټ په برخه کې د څو اړخیزو همکاریو په پراختیا، افغان موټرچلوونکو ته د ویزو ورکړې پر چټکتیا، د اقتصادي اړیکو پر ټینګښت، د دواړو هېوادونو تر منځ د ځمکني مسافروړنکو خدمتونو پر پیلولو او د واټ ټرانسپورټ برخې کارکوونکو د ظرفیت لوړنې او اړوندو موضوعاتو په تړاو ګټورې خبرې وشوې.

## د مسافروړونکو موټرو د دروازو بدلولو ګډ پلان لاسلیک شو

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د واټ ټرانسپورټ معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري او د ترافیکو لوی رئیس پاسوال حسیب الله مختار لخوا د مسافروړونکو موټرو د دروازو بدلولو په تړاو ګډ پلان لاسلیک شو، چې پر اساس به یې هغه مسافروړونکي موټر چې دروازې یې د ترافیکي قوانینو خلاف خلاصېږي، خپلې دروازې بدلې کړي.

## پکتیکا ولایت انګور هډه کې د واټ ټرانسپورټ ودانۍ

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د پکتیکا ولایت د واټ ټرانسپورټ تنظیم لوی مدیریت اړوند د انګور هډې په سیمه کې یو پوړیزه اداري ودانۍ چې جومات به هم ولري، د څلورنیم میلیونه افغانیو په لګښت جوړېږي چې ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.



## فراه هوايي ډګر کې د کانال جوړېدل

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا فراه هوايي ډګر کې د سیلابونو څخه د مخنیوي په پار د یو کانال جوړېدو چارې پیل شوې. دا کانال چې د درې زرو او ۳۵۱ مترو په اوږدوالي د ۵میلیونه او ۴۰۰ زره افغانیو په لګښت جوړېږي، چارې به یې په دریو میاشتو کې پای ته ورسېږي.

## د خوست واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست لپاره د نوې ودانۍ جوړولو چارې پیل شوې



د خوست ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست لپاره د نوې ودانۍ جوړېدو چارې پیل شوې، چې د ۳۰۸ مربع مترو په اندازه د لس میلیونه او ۹ لکه افغانیو په لګښت، په دریو پوړونوکې جوړېږي، چې ۱٦ اداري خونې به ولري او چارې به يې د پينځو مياشتو په موده کې بشپړې شي.

## ایرالعربیه هوايي شرکت کابل نړیوال هوايي ډګر ته الوتنې پیل کړې




ایرالعربیه هوايي شرکت به له دې وروسته په نورمال ډول د شارجې او کابل ترمنځ په ورځ کې یوه الوتنه کوي، دا په داسې حال کې ده، چې څه موده وړاندې فلای دوبۍ هوايي شرکت هم کابل ته الوتنې پیل کړې.

## د خوست هوايي ډګر ځغاستلیکې دواړو خواو د رغونې پروژه پیل شوه



د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا د خوست هوايي ډګر ځغاستلیکې دواړو خواو هوارونې او رغونې پروژې کارونه د څه کم اته میلیونه افغانیو په ارزښت پیل شول.

## کندوز ولایت شېرخان بندر کې د یوې پروژې چارې پیل شوې

د کندوز ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست له لورې د شېرخان بندر په باروړونکي ترمینل کې د یوه جومات، پاکو اوبو رسولو سیسټم او د ترمینل څخه چاپېر دیوال جوړولو چارې پیل شوې. دا پروژه به د اتو میلیونو افغانیو په لګښت جوړېږي، چې په بشپړېدو سره به يې موټرچلوونکو ته پوره اسانتیا برابره شي.

## کابل نړیوال هوايي ډګر کې د دوو پروژو چارې پیل شوې



د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا د يوې غونډې په ترڅ کې چې مالي او اداري معين حافظ صديق الله عابد، د عملياتي معينت سلاکار کپتان غلام جيلاني وفا، د هوايي ډګرونو لوی رئيس عبدالستار غروال او د کابل نړيوال هوايي ډګر لوی رئيس مولوي عبدالهادي محمد پکې ګډون درلود د کورنيو الوتنو مسافرو لپاره جوړه شوې سوداګريزه خونه ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه او د ياد هوايي ډګر د عمومي دروازې په نوې بڼه جوړولو چارې پيل او د هوايي ډګر ټولو برخو ته د نوري فايبر له لارې انټرنېټ رسولو په موخه د افغان بيسيم مخابراتي شرکت له رئيس سره يوه هوکړه هم لاسليک شوه.

## د ايران له سفير سره په ټرانسپورټي پراختيا خبرې وشوې



د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حميدالله اخندزاده په کابل کې د ايران له سفير او د افغانستان په چارو کې د ولسمشر له ځانګړي استازي حسن کاظمي قُمي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل. په دې کتنه کې د واټ ټرانسپورټ او هوايي چلند په برخه کې په دوه اړخيزو همکاريو، د اړيکو په لا پراختيا، په يادو برخو کې د اسانتياوو په رامنځته کولو، د سړک او رېل له لارې د افغانستان د صادراتو پر زياتوالي او د افغانستان د سوداګريزو توکو د صادراتو او وارداتو لپاره د چابهار بندر له لارې په ګټه اخيستنه ګټورې خبرې وشوې.

## غزني کې د نا قانونه ټرانسپورټي اتحاديو فعاليت وځنډول شو

د غزني ولايت د واټ ټرانسپورټ تنظيم رياست لخوا د ياد ولايت جاغوري ولسوالۍ، انګوري، سنګ ماشه او غجور بازارونو کې د نا قانونه رامنځته شويو ټرانسپورټي اتحاديو او نمايندګيو فعاليت وځنډول شو. دا هغه ټرانسپورټي اتحاديې او نمايندګۍ وې، چې د ټرانسپورټي فعاليت اجازه ليک يې نه درلود او خپل سري فعاليتونه يې کول.

## د هرات واټ ټرانسپورټ تنظيم رياست اداري ودانۍ د بيارغونې پروژه بشپړه شوه



د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا د هرات ولايت واټ ټرانسپورټ تنظيم رياست اداري ودانۍ د بيا رغونې پروژه چې چارې يې دوه مياشتې وړاندې پيل شوې وې، د څه کم ۵۰۰ زره افغانيو په لګښت سره بشپړه شوه. په دغه پروژه کې د يادې ودانۍ رنګول، الکترونيکي دروازو، اوبو او برق سيستمونو فعالول او همدا راز د نورو ويجاړ شوو برخو بيا رغول شامل وو.

## په کابل کې د بار وړونکو موټرو لپاره ترمينل او نوبت سيستم فعال شو



د واټ ټرانسپورټ معين الحاج ملا عبدالسلام حيدري لخوا د کابل ولايت ده‌سبز ولسوالۍ کې د بار وړونکو موټرو لپاره نوی ترمينل او د نوبت سيستم پرانيستل شو. ياد ترمينل د اويا ميليونو افغانيو په لګښت په ۱۰۰ جريبه ځمکه کې جوړ شوی، چې د درې زرو لويو موټرو ځايېدو ظرفيت لري.

## مزار شريف ته د يزد هوايي شرکت د الوتنو پيل



د يزد ايربس هوايي شرکت لومړۍ الوتنه د ۱۴۰۲ل کال د سلواغې مياشتې په لومړۍ نېټه د مزار شريف ښار د مولانا جلال‌الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډګر ته ترسره شوه. دا هوايي شرکت به په اونۍ کې د تهران او مزار شريف تر منځ يوه الوتنه ولري، چې له دې سره به د دواړو هېوادونو مسافرو ته د پام وړ اسانتياوې رامنځته شي.

## خوست نړيوال هوايي ډگر څخه العين ته الوتنې پيل شوې

د اريانا افغان هوايي شرکت لخوا د خوست ولايت څخه متحده عربي اماراتو العين ښار ته الوتنې پيل شوې، يادې الوتنې به اونۍ کې دوه ځلې د جمعې او دوشنبې په ورځو د خوست نړيوال هوايي ډگر څخه العين ته ترسره کېږي، چې له دې سره به هغه افغان مسافرو ته چې په متحده عربي اماراتو کې کار کوي، د پام وړ اسانتياوې رامنځته شي.

## بلخ ولايت کې تر درې زرو زيات برېښنايي کارتونه او کتابچې وېشل شوي

د بلخ ولايت واټ ټرانسپورټ د تنظيم رياست لخوا ټرانسپورټي وسايطو د معياري کولو په پار په ۱۴۰۲ل کال کې بارورونکو او مسافرورونکو موټرو ته درې زره او ۶۱۱ برېښنايي کارتونه او کتابچې وېشل شوي دي، چې دا بهير په عادي ډول روان او هره ورځ ورته لسگونه موټر مراجعه کوي.

## په لومړي ځل د فراه ولايت او ايران ترمنځ د ټکسي چلوونې ځانگه پرانېستل شوه



د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په هڅو د لومړي ځل لپاره د فراه ولايت او ايران هېواد بيرجند ښار ترمنځ د کابل کاروان هوټک نړيوال ټرانسپورټي شرکت له لورې د ټکسي چلوونې ځانگه پرانېستل شوه. د دې ځانگې په پرانېستلو سره به مسافر د افغانستان له فراه ولايت څخه د ايران هېواد تر بيرجند ښار او له بيرجند څخه فراه ته سفر کولی شي.

## ترينکوټ هوايي ډگر څخه د چاپېربدونکي ديوال پروژه پيل شوه

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا د اروزگان ولايت، ترينکوټ هوايي ډگر څخه د چاپېربدونکي ديوال جوړېدو چارې پيل شوې. دا ديوال چې د څلورزره مترو په اوږدوالي د ۹ ميليونه افغانيو په ارزښت جوړېږي، چارې به يې دريو مياشتو کې بشپړ او گټې اخيستنې ته وسپارل شي.

## په روان کال کې څه کم څلور زره موټرو ته ټرانسپورټي اسناد وېشل شوي

ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د کابل عامه ښاري ټرانسپورټ تنظيم رياست له لورې په روان ۱۴۰۲ ل کال کې ۳ زره ۸۰۰ ښاري بسونو او ټکسيو ته برېښنايي کارت او ټرانسپورټي کتابچې وېشل شوې دي. د ياد رياست له لورې هره ورځ په نورمال ډول نږدې اتيا موټرو ته ټرانسپورټي اسناد ورکول کېږي.

## د دريو لويو پروژو تړونونه لاسليک شول



په (۱۱/۱۱/۱۴۰۲) نېټه د حکومت اطلاعاتو او رسنيو مرکز کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت او خصوصي سکټور ترمنځ د دريو لويو پروژو تړونونه د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال الحاج ملا عبدالغني برادر اخند په حضور کې لاسليک شول. دغه درې پروژې چې د هرات ولايت د ګذرې ولسوالۍ مسافروړونکو موټرو ترمينل، د آقينې بندر تيرپارک او کابل نړيوال هوايي ډګر پارکينګ او انتظارځای شامل دي، چې د ۲ ميليارده او ۲۴۰ ميليونه افغانيو په ارزښت به ورغول شي او څه باندې دوه زره کسانو ته به د کار زمينه پکې برابره شي.

## د سيرت النبي د درسونو ارزونه وشوه

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د دعوت او ارشاد رياست لخوا په ديني برخه کې د کارکوونکو د ظرفيت لوړولو په موخه د ښودل شويو درسونو ارزونه وشوه، چې د وزارت ټولو کارکوونکو په پوره مينه او علاقه پکې برخه اخيستې وه. په دې ارزونه کې د دعوت او ارشاد رياست رئيس مفتي نعمت‌الله نعماني ددې ډاډ ورکړ، چې ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د دعوت او ارشاد رياست د منظم تدريس په پايله کې به د وزارت ټول کارکوونکي تر ډېره بريده په مهمو ديني علومو پوه شوي وي. د دعوت او ارشا رياست لخوا د خپل پلان له مخې د ټولو رياستونو کارکوونکو ته د تفسير، سيرت‌نبي او فقهي درسونه ښودل کېږي، چې د وزارت ټول کارکوونکي پکې په پوره شوق او علاقه برخه اخلي.

## له کابل څخه خوست نړیوال هوايي ډګر ته لومړنۍ الوتنه تر سره شوه



له دې وروسته به د هرې جمعې او دوشنبې په ورځو له پلازمېنه کابل څخه خوست همدارنګه شنبه او سه شنبه له خوست څخه کابل ته الوتنې ترسره کېږي، چې دا به د خوست ولایت خلکو ته پوره اسانتیا رامنځته کړي. د یادولو وړ ده، چې د مسافرو په زیاتوالې سره به یادې الوتنې زیاتې شي.

## فراه کې د مسافروړونکو موټرو ترمینل بنسټ ډبره کېښودل شوه

فراه ولایت د واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست له لورې په یاد ولایت کې د مسافروړونکو لویو او هغه موټرو لپاره چې د فراه او نورو ولایتونو تر منځ مسافر لېږدوي، ٦ جریبه ځمکه کې د ترمینل د بنسټ ډبره کېښودل شوه. دغه ترمینل کې د مسافرو او موټرچلوونکو لپاره جومات، نارینه او ښځینه انتظار ځایونه، د ټرانسپورټي شرکتونو لپاره دفتري خونې او نورې اسانتیاوې په پام کې نیول شوې دي.

## د هرات واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست د جومات بیارغونه



د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا د یاد ریاست جومات بیارغونې چارې د ۳۲۳ زره افغانیو په لګښت بشپړې شوې. په دغه پروژه کې د جومات د منارو اونورو برخو بیا رغونې تر څنګ، رنګ او د برق سیستم هم شامل وو.

## د واخان پر درې اړخیز ځمکني او ریلي دهلېز ناسته ترسره شوه

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حمیدالله اخندزاده په مشرۍ چې د بهرنیو چارو وزارت او د اوسپنې پټلۍ اداري استازو هم پکې برخه درلوده، ګډه ناسته ترسره شوه، په دې ناسته کې د چین، ایران او افغانستان تر منځ د واخان په درې اړخیز ځمکني او ریلي دهلېز خبرې اترې وشوې او پر وړاندې یې پر پرتو ننګونو او فرصتونو ګټورې خبرې او بحثونه وشول.

## کابل نړیوال هوایي ډګر کې د پلو لارو جوړول



د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت لخوا د کابل نړیوال هوایي ډګر پلو لارو کې د مزایک لګولو پروژه چې چارې یې ۵۰ سلنه بشپړې شوې دي، د یو میلیون او ۵۹ زره افغانیو په ارزښت بیارغول کېږي. د دې پروژې په بشپړېدو به د یاد هوایي ډګر ۱۷۶۵ مربع مترو په اندازه د پلو لارو مزایک نوي کړل شي.

## د هواپېژندنې دیوې نوې دستګاه لګول



د ټرانسپورټ او هویي چلند وزارت د عملیاتي معین مولوي فتحالله منصور په مشرۍ چې د یاد وزارت مسئولینو او یو شمېر رئیسانو هم پکې ګډون کړی و، د هواپېژندنې سټېشن کې د هواپېژندنې یوه نوې دستګاه پرانېستل شوه. دغه دستګاه د لومړي ځل لپاره په هېواد د ننه د هوا پېژندنې ریاست د انجنیرانو لخوا جوړه شوې، چې د هوا حالاتو د وړاندوینې لپاره د اووه ډوله طبیعي پارامیټرونو په راټولولو کې ترې ګټه پورته کېږي.

## له متحده عربي اماراتو څخه بلخ ته کارګو الوتنې پیل شوې



د بلخ ولایت مولانا جلال الدین محمد بلخي نړیوال هوایي ډګر او متحده عربي اماراتو ترمنځ دوه اړخیزې سوداګریزې الوتنې پیل شوې. چې لومړۍ الوتنه یې په ۵/۱۲/۱۴۰۲ نېټه تر سره شوه، د یو خصوصي شرکت ۱۶ ټنه سوداګریز توکي له دوبۍ ښار څخه مزارشریف ښار ته ولېږدول شول.

## له اویاوو څخه پر زیاتو پروژو کار روان دی



د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا په ۱۴۰۲ل کال کې د واټ ټرانسپورټ او هوايي چلند اړوند پر ۷۴ رغنیزو پروژو، چې ارزښت يې تر ۲،٦ میلیارده افغانیو څخه لوړ دی، کار روان دی. له دې پروژو څخه ۴۷ يې د وزارت له خپلې بودیجې او ۲۷ هغه يې د خصوصي سکتور په ملتیا جوړېږي، چې له دې سره نږدې لسو زرو کسانو ته د کار زمینه هم برابره شوې ده.

## فیض‌اباد هوايي ډګر کې د بیا رغونې چارې



د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا د څه باندې شپږ میلیونه افغانیو په لګښت د بدخشان ولایت فیض‌اباد هوايي ډګر کې د بیارغونې ځینې کارونه او تر څنګ يې د ځغاستلیکې نښانې کولو رغنیزې چارې ترسره شوې.

## د کابل نړیوال هوايي ډګر بهرني ترمینل د بام بیارغونه



د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا د کابل نړیوال هوايي ډګر بهرني ترمینل د بام بیارغونې پروژه چې د ۸۸۰ زرو افغانیو په لګښت سره پیل شوې، چارې يې بشپړ شوې دي.

## له ۵۰ زیاتو ټرانسپورټي شرکتونو ته د فعالیت اجازه لیکونه ورکړل شوي




د ټراسپورټ او هوايي چلند وزارت د ټرانسپورټي خدمتونو تنظیم او عرضې ریاست لخوا په ۱۴۰۲ل کال کې ۴۲ ټرانسپورټي اتحادیې په شرکتونو بدلې شوې او ۱۰ ټرانسپورټي شرکتونو ته د فعالیت اجازه لیکونه ورکړل شوي دي. د یادولو وړ ده چې په ټول هیواد کې اوس مهال ۳۸۴ ټرانسپورټي شرکتونه فعالیت لري او د ۴۰ نورو ټرانسپورټي شرکتونو د جوړولو پروسه روانه ده.

## میمنې هوايي ډګر کې د لمریزې برېښنا سیستم فعال شو

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا د فاریاب ولایت، میمنې هوايي ډګر کې د دوه میلیونه ۸۷۹ زرو افغانیو په ارزښت د لمریزې برېښنا سیستم فعال، چې په دې سره به یاد هوايي ډګر له ۲۴ ساعته برېښنا برخمن شي.

## پروسه چک تخنیک در راستای معیاری‌سازی وسایط ترانسپورتی نقش مؤثر داشته است

ریاست خدمات تخنیکی و مصؤنیت وزارت ترانسپورت جهت مصؤنیت مسافرین و معیاری سازی وسایط مسافربری، در ترمینل‌های شهر کابل وضعیت تخنیکی وسایط کلان ظرف و کوچک ظرف را بررسی و کنترول می‌کند. این ریاست در جریان سال ۱۴۰۲ وضعیت تخنیکی ۱۴ هزار و ۲۸۳ واسطه مسافربری را در ترمینل‌های شهر کابل بررسی و کنترول کرده است.

در این پروسه چک تخنیک فعالیت یک هزار و ۸٦۴ واسطه ترانسپورتی به‌طور موقت جهت حل مشکلات تخنیکی توقف داده شده است. همچنان به تعداد ۱۹ هزار و ٦۳۸ واسطه مختلف النوع ترانسپورتی که به خاطر اخذ کارت و کتابچه الکترونیکی سیر ترانسپورتی مراجعه نموده، ارزیابی تخنیکی شده است.

قابل ذکر است که پروسه چک تخنیک براساس یک چک لیست صورت می‌گیرد که تمام وضعیت فزیکی وسایط در آن شامل می‌شود. این در حالیست که تاکنون انجنیران تخنیکی ریاست خدمات تخنیکی و مصؤنیت ده‌ها چوکی اضافه را از بس‌های مسافربری کم کرده، تایر، چراغ‌ها، دود تولید شده از واسطه و سایر بخش‌های فزیکی وسایط را بررسی و کنترول کرده اند و در برخی ولایات دیگر نیز این پروسه جریان دارد. در همین حال از سوی وزارت ترانسپورت و هوانوردی در تمام ولایت‌های کشور وسایط مسافربری از انتقال اموال تجارتی بازداشته شده اند.

## تلاش‌های جهت ارتقای ظرفیت کارمندان ریاست هواشناسی

وزارت ترانسپورت و هوانوردی در ادامه‌ای تلاش‌ها جهت مسلکی سازی و ارتقای ظرفیت کاری کارمندان، در جریان سال ۱۴۰۲ شماری از کارمندان ریاست هواشناسی را در برنامه آموزش ستلایت، به‌طور آنلاین معرفی کرد.

این سمینار که از سوی سازمان هواشناسی جنوب آسیا به‌طور آنلاین برگزار شد، برای اشتراک کنندگان در باره ستلایت، رادار، سیستم اطلاعات جغرافیای کوانتومی (QGIS) و دیگر موضوعات مرتبط آموزش داده شد.

در ادامه هم‌چنان از سوی ریاست منابع بشری وزارت ترانسپورت و هوانوردی سمینار ده روز خاص در مورد هواشناسی برگزار گردید که در کنار کارمندان ریاست هواشناسی، شماری از کارمندان وزارت‌های زراعت، آبیار و مالداری، انرژی و آب و وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث در آن اشتراک داشتند.

در این سمینار در باره پیش بینی حوادث طبیعی و هماهنگی میان ادارات جهت جلوگیری و کاهش خطرات احتمالی برای شهروندان از آن در انستیتوت هوانوردی ملکی به اشتراک کنندگان معلومات ارائیه گردید.

از سوی هم سمینار دیگری در باره تجهیزات و مشاهدات هواشناسی برای کارمندان استیشن های هواشناسی مرکز و ولایات برگزار شد که در باره سیستم‌های نوسازی مشاهداتی، کُدهای هواشناسی، حفظ و مراقبت از دستگاه و تجهیزات هواشناسی و دیگر موضوعات مهم آموزش داده شد تا در زمینه کاری از آن مستفید شوند.

در همین حال ریاست هواشناسی به‌منظور تهیه گزارش‌های هواشناسی و مصؤنیت پروازهای داخلی و خارجی یک پایه استیشن جدید هواشناسی را در میدان هوایی بین‌المللی کابل نصب کرد.

قابل ذکر است هم اکنون ۵٦ استیشن هواشناسی در مرکز و ولایات فعال اند و ریاست هواشناسی وزارت ترانسپورت با استفاده از آن‌ها همه روزه وضعیت آب و هوای مرکز و ولایات کشور را پیش بینی می‌کند و در حالات خطر، در باره وضعیت جوی به هموطنان هشدار می‌دهد.

## په ۱۴۰۲ کال کې څه باندې ۸۰ زره موټر ثبت شوي

د ټرانسپورټي خدمتونو تنظیم او عرضې ریاست له لوري په ۱۴۰۲ کال کې ۲۱٦۱۴ ټکسي موټر، ۳٦۲۴٦ باروړونکې لاری، ۲۳۳٦۱ مسافر وړونکي موټر او څه کم ۱۲۰۰ ریکشاوې په ټرانسپورټي سیستم کې ثبت شوي. یاد لېږدونکي وسایط د ټرانسپورټي اسنادو وېش، اسنادو نوي کولو، او احصائیوي ارقامو راټولولو په موخه ثبتېږي او هره ورځ په منځني ډول ۳۰۰ موټر ثبت کېږي.

## بیش از صد سمینار برای کارمندان وزارت ترانسپورت و هوانوردی ارائیه شد

ریاست منابع بشری وزارت ترانسپورت و هوانوردی جهت ارتقای ظرفیت کاری کارمندان در مرکز و ولایات، در جریان سال ۱۴۰۲ به تعداد ۱۰۴ سمینار پیرامون موضوعات ترانسپورت جاده‌ای و هوانوردی ارائیه کرده است.

در این سمینارها برای اشتراک کنندگان در باره موضوعات ترانسپورت جاده‌ای، هوانوردی، مراسلات اداری، بودجه، آگاهی دهی از پالیسی اداره و دیگر موضوعات مهم و مرتبط آموزش داده شده تا در زمینه کار عملی از آن بهره‌مند شوند. این در حالیست که ارائیه سمینارها برای کارمندان مفید تمام شده و توانسته است در زمینه‌های کاری مشکلات بیشتر کارمندان را حل کند.

در همین حال مولوی محمد موسی غزنوی، رئیس منابع بشری این وزارت در جریان سال ۱۴۰۲ با پوهنتون کاردان تفاهمنامه همکاری‌های علمی را امضاء کرد، که بر اساس آن در زمینه‌های مختلف علمی و آموزشی همکاری‌های دوجانبه صورت می‌گیرد.

وزارت ترانسپورت و هوانوردی متعهد است که با ارائیه چینین برنامه‌ها جهت مسلکی سازی کارمندان و ارتقای ظرفیت آنان گام‌های مؤثر بردارد.

## بهرني سفرونه

په دې تېرو څو میاشتو کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لوړپوړو چارواکو ځینو بهرنیو هېوادونو ته سفرونه ترسره کړل، د دې سفرونو په ترڅ کې د ځمکني او هوايي چلند پر پراختیا د اسانتیاوو په برابرولو او دې ته ورته نورو مهمو مسائلو ګټورې خبرې او ناستې ترسره شوې دي.



- **د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست ازبکستان هېواد ته سفر وکړ.**

الحاج ملا حمیدالله اخندزاده او ورسره مل پلاوي په (۱۴۰۲/مرغومې/۵) نېټه ازبکستان هېواد ته رسمي سفر ترسره کړ. د دې سفر په ترڅ کې یې د ازبکستان هېواد د ټرانسپورټ وزیر سره د دواړو هېوادونو تر منځ د ټرانسپورټي چارو په پراختیا او ورته مسائلو خبرې وکړې او تر څنګ یې د یاد هېواد هوايي چلند له مسئولینو سره هم لیدنه وکړه. هېره دې نه وي چې څه موده وړاندې د ازبکستان د ټرانسپورټ وزیر او اړوند چارواکي هم افغانستان ته راغلي وو چې د ځمکني ټرانسپورټ په برخه کې په دوه اړخیزو همکاریو ګټورې خبرې وشوې.

- **د ریاض ښار د هوايي چلند په ننداړتون کې ګډون**

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت یو پلاوي په ( ۱۴۰۲/لیندۍ/۲۸) نېټه چې د هوايي ډګرونو لوی رئیس الحاج عبدالستار غروال او د هوايي چلند انسټیټیوټ رئیس احمد وزیر ساپي یې ملتیا کوله، د سعودي عربستان د هوايي چلند په دوه ورځني ننداړتون کې برخه واخیسته، دا ننداړتون چې د سعودي عربستان د ریاض په ښار کې جوړ شوی و، د هوايي چلند سیمه‌ییز او نړیوال اتصال، د هوايي چلند د اقتصادي برخې پرمختګ او د نورو ورته موخو لپاره پکې ګډون
شوی و.

- **د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت یو پلاوي ایران هېواد ته سفر ترسره کړ**

په دې سفر کې چې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت څخه د واټ ټرانسپورټ پراختیا رئیس یار محمد رمضان د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت، د صنعت او سوداګرۍ، مالیې او د بهرنیو چارو وزارتونو د تخنیکي استازو په ملتیا ایران هېواد ته سفر ترسره کړ، یاد تخنیکي پلاوي په دغه سفر کې له ایراني چارواکو سره د چابهار بندر له لارې د سوداګریزو توکو پر لېږد رالېږد، افغان سوداګرو ته د اسانتیاوو پر برابرولو او ورته نورو ټرانسپورټي او ټرانزیټي مسائلو او په دې برخه کې د شویو هوکړو پر عملي کولو ګټورې خبرې وکړې.
باید یادونه وشي چې چابهار بندر د افغانستان لپاره ډېره مهمه بدیله لاره ده، چې د نړۍ له نورو هېوادونو سره پرې سوداګریزه راکړه ورکړه ترسره کولی شي.



# هډې او ترمینلونه

ترمینلونه او هډې د موټرو په منظم کولو، په ښارونو کې د ګڼې‌ګوڼې او بې‌نظمۍ په مخنیوي، بېلابېلو سیمو ته د مسافرو او سوداګریزو توکو په خوندي رسېدنه کې مهم رول لري، ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت تل هڅه کوي چې د ترمینلونو او هډو جوړولو او معیاري کولو ته دوام ورکړي، په همدې موخه ۱۴۰۲ په اخري دریو میاشتو کې د مسافروړونکو او باروړونکو موټرو ته د هډو او ترمینلونو په جوړولو کې لاندې کړنې او لاسته راوړنې ترسره شوې دي:

## بغلان کې د مزارشریف او سمنګان هډه ورغول شوه

د بغلان ولایت واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست د سمنګان او مزارشریف مسافروړونکو موټرو هډه کې شګه اچونه وکړه او د دې تر څنګ پکې یو جومات، نارینه او ښځینه انتظار ځایونه، د موټرچلوونکو لپاره منظمې خونې، د څښاک پاکو اوبو سیسټم او مسافرو لپاره نور اړین امکانات برابر کړای شوي او دې هډې ته د ننوتلو او وتلو دوې دروازې هم جوړې شوې دي.

## هلمند کې باروړونکو موټرو لپاره پراخ تم‌ځای جوړېږي

د هلمند ولایت د واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست په هڅو د حاجي ادم کلا په سیمه کې د بار وړونکو موټرو لپاره په ۴۳ جریبه ځمکه کې د تم‌ځای جوړولو چارې په چټکۍ سره روانې دي. یاد تم‌ځای چې د یونیم زر باروړونکو موټرو ظرفیت به ولري، پکې د جومات، د څښاک اوبو معیاري سیسټم، د موټرچلوونکو لپاره خونې او نورې اسانتیاوې په پام کې نیول شوې دي.

## غزني کې باروړونکو موټرو ته نوی ترمینل پرانېستل شو

د غزني ولایت د واټ ټرانسپورټ تنظیم ریاست لخوا د بار وړونکو موټرو لپاره نوی جوړ شوی ترمینل د یو لړ مراسمو په ترڅ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. په یاد ترمینل کې چې د باروړونکو موټرو د رونډ نوبت په موخه جوړ شوی، بار وړونکي موټر به نورو ولایتونو ته په نوبت بارونه لېږدوي او منظم ټرانسپورټي فعالیت به ترسره کېږي.

## د غلام خان لویې لارې بارو ړونکو موټرو لپاره پراخ تمځای جوړ شو

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا د خوست ولایت ګربزو ولسوالۍ کې د غلام خان لویې لارې تېرېدونکو موټرو لپاره په سل جریبه ځمکه کې د بارو ړونکو موټرو پراخ تمځای ګټې اخیستنې ته وسپارل شو، چې د نږدې ۱۵۰۰ موټرو ځایېدو ظرفیت لري.

## دایکنډي ولایت کې د شهرک په نامه نوی ترمینل پرانېستل شو

له دایکنډي ولایت څخه کابل او د یاد ولایت اړوند ولسوالیو ته د مسافر وړونکو موټرو لپاره په لس جریبه ځمکه کې د شهرک په نامه نوي جوړشوي ترمینل کې د مسافرو لپاره انتظار خونه، تمځای، د اوبو سیستم او د اړتیا وړ سهولتونه برابرشوي. د یاد ولایت د واټ ټرانسپورټ مسؤلینو لخوا مسافرو ته د تګ راتګ په برخه د پخوا په پرتله اسانتیاوې رامنځته شوي او هڅه کېږي، تر څو ښه ټرانسپورټي خدمتونه وړاندې شي.

## څه کم ۱۷ زره کورنۍ خپلو سیمو ته په وړیا ډول لېږدول شوې دي



د ټرانسپورټ او هوايي چلند په مشرۍ، د ټرانسپورټ کمیټې له لورې له تورخم او سپین بولدک څخه د ۱۴۰۲ل کال تر پایه، څه کم ۱۷ زره کورنۍ چې د کسانو شمېر یې له یو سلو دوه زرو څخه اوړي د هېواد بېلابېلو سیمو ته په وړیا او خوندي ډول لېږدول شوي دي.

## یو کال کې څه کم ۹۰۰ کسان په دندو ګمارل شوي



د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت، بشري سرچینو ریاست له لورې په ۱۴۰۲ ل کې ۸۷۷ کسان د ازادې سیالۍ له لارې په بېلابېلو برخو کې په دندو ګمارل شوي. ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت تل هڅه کوي، ترڅو د کار وړ او مسلکي کسان په اړوند بستونو کې په دندو وګماري.




# د هوايي چلند انستيتيوټ

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت اړوند د هوايي چلند انستيټيوټ هر کال د ازادو سياليو له لارې د هېواد له ټولو ولايتونو څخه د هوايي چلند په دوو برخو (د هوايي ټرافيکو کنټرول او هوايي چلند ټيکنالوژۍ) کې هغه ځوانان چې له دوولسم ټولګي څخه فارغ او په انګليسي ژبه بلديت ولري، د کانکور ازموينې له لارې مني.
دا کسان د دوو کلونو په موده کې له يادو څانګو څخه فارغېږي، چې وروسته يې ډيری په خپلو اړوندو څانګو کې د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې په دندو ګمارل کېږي.




۱۴۰۲ کال له یاد انستیټیوټ څخه ۱۱۲ تنه فارغ او د فراغت سندونه يې ترلاسه کړل، چې د تېر کال په پرتله يې شمېر دوه برابره زيات شوی و.
تېر کال له ياد انستيټيوټ څخه ۵۲ تنه فارغ شوي وو. په ياد انستيټيوټ کې به راتلونکی(۱۴۰۳) کال د واټ ټرانسپورټ او ميترولوژۍ ډيپارټمينټونه هم رامنځته او د هوايي چلند تر څنګ به په يادو برخو کې هم کسان روزل کېږي. په دې فراغتغونډه کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حميدالله اخندزاده او ځينې معينانو او رئيسانو برخه درلوده، محترم وزير صاحب فارغان په خپلو خبرو کې د خپل هېواد جوړولو ته وهڅول، دوی ته يې نيکې سپارښتنې وکړې او زياته يې کړه چې ستاسې عملي کړنې بايد د هېواد د پرمختګ او د هېوادوالو د هوسايۍ لامل وګرځي.

# د نړۍ پخواني هوايي ډګرونه

اوسمهال ډېرى ګرځندويان هوايي سفر ته لومړيتوب ورکوي، تر څو په کمه موده کې خپل منزل ته ورسېږي او له خپل سفر څخه خوند واخلي؛ نو په دې کې هوايي ډګرونه مهم رول لري، راځئ ووينو چې د نړۍ پخواني هوايي ډګرونه کوم دي:

د لسو هوايي ډګرونو څخه اوه يې په اروپا کې دي، دوه هوايي ډګرونه يوازې په المان کې دي، په دې پخوانيو هوايي ډګرونو کې ډېرى يې په لومړۍ او دويمو نړيوالو جګړو کې د نظامي هڅو په توګه کارېدلي دي. له دې هوايي ډګرونو څخه يې ځينې بيا رغول شوي او ځينې يې په پخوانۍ تاريخي بڼه اوس هم پاتې دي، چې په دې هوايي ډګرونو کې د امريکا متحده ايالاتو کالج پارک، په المان کې د هامبورک، په انګلستان کې د شورهام هوايي ډګرونه يادولی شو.

## کالج پارک هوايي ډګر

(College Park Airport)



د نړۍ تر ټولو پخوانی هوايي ډګر د امريکا د متحده ايالاتو په ميريلينډ ايالت کې جوړ شوی دی چې نوم يې کالج پارک هوايی ډګر (College Park Airport) دی او د نړۍ له پخوانيو هوايي ډګرونو څخه شمېرل کېږي، چې لاهم فعال دی. دا هوايي ډګر د رايټ وروڼو له خوا په ۱۹۰۹ز کال د پيلوټانو د روزنې لپاره جوړ شوی و او په همدې کال ترې لومړی هوايي سفر يوې ښځې ترسره کړ.

## لیونګ بیهېډ هوايي ډګر
(Ljungbyhed Airport)



لیونګ بیهېډ (Ljungbyhed) هوايي ډګر د سویډن په سوېل کې موقعیت لري او د دې هوایی ډګر ځمکه د سویډن هوایی ځواک سره اوږده مخینه لري، دا هوایی ډګر له ۱۶۵۸ز کال راهیسې د نظامي موخو لپاره کارول کېږي. له دې هوايي ډګر څخه د ۱۹۱۰ز کال راهیسې الوتنې پیل شوې او د الوتکو د الوتنې ځای و. د ۱۹۱۵ز کال له جون راهیسې د هوايي چلند د ښوونځي کورېه و. اوس د لونډ (Lund) هوايي چلند پوهنتون دا هوایی ډګر د تعلیمي موخو لپاره کاروي. د لیونګ بیهېډ هوايي ډګر په سویډن کې یو له بوختو هوایی ډګرونو څخه دی، چې په کال کې له نوي زرو څخه د ډېرو الوتکو الوتنې او ناستې پکې ترسره کېږي.

## هامبورګ هوايي ډګر
(Hamburg Airport)



هامبورګ هوايي ډګر (Hamburg Airport) په المان کې تر ټولو پخوانی هوايي ډګر دی، چې په ۱۹۱۱ز کال ګټې اخیستنې ته سپارل شوی دی. ویل کېږي چې دا هوايي ډګر اوسمهال د جرمني پینځم لوی هوايي ډګر دی، چې له هامبورګ ښار څخه په ۸،۵ کیلومترۍ کې موقعیت لري. په لومړیو کې دا هوايي ډګر د هوايي بېړیو لپاره د هڅې په موخه جوړ شوی و؛ خو د لومړۍ نړیوالې جګړې په جریان کې له دې هوايي ډګر څخه ډېره ګټه واخیستل شوه. د هامبورګ هوایی ډګر په تېرو دوو لسیزو کې بیا رغول شوی او ډېر بدلون پکې راغلی دی، چې په دې رغونه کې دوه ترمینلونه، میترو، پراخ سړکونه او تمځای شامل دي. له ۲۰۱۵ز راهیسې له دې هوايي ډګر څخه الوتنې زیاتې شوې دي. اوس هم ترې له سلو زیاتو ځایونو ته ۱۵۸۳۹۸ الوتنې ترسره کېږي او هر کال ترې دیارلس میلیونه مسافر لېږدول کېږي.

## شورهام هوايي ډګر
(Shoreham Airport)



شورهام هوايي ډګر(Shoreham Airport) په برېتانيا کې موقعيت لري، په ۱۹۱۱ز کال کې جوړ شوی او په ۱۹۱۳ز کال پکې د هوايي چلند لومړی ښوونځی پرانيستل شو. د لومړۍ نړيوالې جګړې پر مهال دا هوايي ډګر د برېتانيا لومړنيو الوتکو له هڅې ځخه شمېرل کېده او د دويمې نړيوالې جګړې پرمهال هم د پوځي الوتنو د هڅې په توګه ترې ګټه پورته کېده او په بېلابېلو برخو يې بريدونه هم شوي دي. په ۱۹۳٦ز کې د ترمينل ودانۍ د آرټ ډيکو په هنري سبک ډيزاين او پرانيستل شوه او تر نن ورځې پورې ورځخه کار اخيستل کېږي. دا هوايي ډګر اوسمهال ډيرى وختونه د ځورلکو، کوچنيو او سپکو الوتکو لپاره کارول کېږي او په بېلابېلو پروګرامونو کې هوايي مانورونه او ننداري هم پکې ترسره کېږي.

## بخارست اوريل ولايکو هوايي ډګر
(Bucharest Aurel Vlaicu Airport)



دغه هوايي ډګر چې د بانيسا په نوم هم پېژندل کېږي، په رومانيا او ټوله ختيځه اروپا کې ترټولو پخوانی هوايي ډګر دی. د يادولو وړ ده، چې په ۱۹٦۵ز کال په رومانيا کې اوتوپني هوايي ډګر پرانيستل شو او د دغه نوي هوايي ډګر د فعاليت تر پيل پورې په رومانيا کې اورل ولايکو بخارست (Bucharest Aurel Vlaicu Airport) يوازينی هوايي ډګر و، چې د الوتنو خدمات يې وړاندې کول. اوريل ولايکو د يو شخص نوم دی، چې الوتکه جوړوونکی او پيلوټ و، دغه هوايي ډګر هم د ياد شخص په وياړ د (اورل ولايکو) په نوم ونومول شو. په ۱۹۲۰ز کال دغه هوايی ډګر د فرانسوي-روماني شرکت د هوايي کنټرول مرکز وګرځېد. دغه شرکت د هوايي چلند صنعت کې يو له لومړنيو نړيوالو شرکتونو ځخه دی. د دې هوايي ډګر ترمينل ودانۍ په ۱۹۵۲ز کې پرانيستل شوه، چې تر اوسه فعاله او په رومانيا کې د عصري معمارۍ يوه غوره بېلګه ګڼل کېږي. په ۲۰۱۲ز کال د سوداګريزو الوتنو زياتوالي له کبله دې هوايي ډګر کې پراختيا راغله او په يو سوداګريز هوايي ډګر بدل شو. له دې هوايي ډګر ځخه په ۲۰۱۵ز کال کې له ۱۱۳۴۸ زياتې الوتنې کنټرول شوې وې.

## نور هوایی ډګرونه چې په ۱۹۲۰ یا له دې وړاندې جوړ شوي دي:

د نورو پخوانيو هوايي ډګرونو له جملې څخه څلور نور يې هم په اروپا کې دي. د آلمان د بريمن هوایی ډګر یو له هغو هوايي ډګرونو څخه دی، چې په ۱۹۱۳ز کال کې پرانیستل شوی دی. په ایټالیا کې د روم چمپینو هوايي ډګر هم په ۱۹۱٦ز کال کې پرانیستل شوی. د هالنډ د امستردام شيفول هوایی ډګر په ۱۹۱٦ز کال کې تأسیس شوی او په فرانسه کې
د پاریس‌لو بورژه هوايي ډګر هم په ۱۹۱۹ز کال پرانیستل شوی، چې د اروپا له پخوانيو هوايي ډګرونو څخه ګڼل کېږي.
د تایلېنډ په بنکاک کې دان میوئنګ نړیوال هوايي ډګر چې په ۱۹۱۴ز کې جوړ شوی او استرالیا کې د سیډني کینګسفورډ سمیټ هوایی ډګر چې په ۱۹۲۰ز کال پرانیستل شوی دواړه د نړۍ له پخوانيو نړيوالو هوايي ډګرونو څخه دي.
د یادونې وړ ده، چې دغه هوايي ډګرونه په کوربه هېوادونو کې د تاریخي ودانيو ارزښت لري او د صنعت او مسافرت ټکنالوژۍ په برخه کې د پرمختګ ښکارندويي کوي.







# بعضی از اصطلاحات کاربردی هوانوردی

این‌که انسان به‌عنوان خلیفه خداوند متعال در روی زمین انتخاب شده و این خلافت به معنی واقعی کلمه در تمام مخلوقات برای انسان اعطاء گردیده است. توانایی تسخیر در همه امکانات موجود زمینی و حتا فرازمینی برای انسان داده شده تا بتواند با بینش وسیع و فکر بلند به آن به آیات موجود در زمین برای شناخت خداوند پی برده و از آن‌ها استفاده بهینه کند و این استفاده قطعاً میسر نیست و مستلزم وسیله شناختی است که این وسیله همانا علم و دانش می باشد.

جهانی که ما در آن زندگی می‌کنیم جهان استوار بر فرضیه‌های دانش واستدلال علمی است، اگر به دقت بتاریخ نگاه کنیم علم و دانش ثروت‌های عظیم دزدیده شده‌ای ملت‌های مسلمان می‌باشد که به کشورهای کفری انتقال شده است. بعنوان مثال؛ نخستین دانشمندی که بر مد و جذر ابحار دسترسی علمی پیدا کرد، ابونصر فارابی بود و اولین وسیله پرواز به فضاء هم توسط مسلمانی در اندلس پیشین (اسپانیا) امروزی ساخته شد که چندین میادین به اسم وی نامگذاری شده است. پس برما لازم است که این میراث گران بهای نیاکان خویش را ارج‌گذاری نمایم و با تعلیم و تخصص در آن با وسیله تقوا متعهد باشیم. در دنیا امروزی، هوانوردی حیثیت ستون فقرات را در رسیدگی به همه معضلات دارد و پاسداری از فضای هوایی یک کشور همانند پاسداری زمین آن حایز اهمیت است که ضرورت به تخصص و علم بیشتر در این زمینه برای کشور ما می‌باشد.

مطالب ذیل معلومات مختصری در بخش هوانوردی می‌باشد که برای همه دست اندرکاران این مسلک مهم پنداشته می‌شود.

میدان هوایی (Airport): عبارت از مکانی مشخص در خشکه و آب است که برای نشست و برخاست طیاره‌ها استفاده شده و دارای ساختمان‌ها، تاسیسات وتجهیزات لازم می‌باشد.



خط پرواز (Runway): عبارت از ساحه مستطیل شکل و هموار می‌باشد که برای نشست و برخاست و سایر عملیات طیاره‌ها از آن استفاده می‌شود.
تکسوی: ساحه‌ای است که رنوی را به آپرون وصل می‌کند.



اپرون یا (Ramp): ساحه متصل به تکسوی است که طیاره‌ها در آن مکان جهت بارگیری و تخلیه مسافرین، محموله‌ها، حفظ و مراقبت و سوخت گیری توقف می‌کنند.





برج مراقبت (Control Tower): عبارت از مکانی است که برای کنترول طیاره‌ها در زمین و هوا از آن استفاده می‌شود.

مصؤنیت (SMS): یک بخشی از هوانوردی است که مسئولیت جلوگیری از متضررشدن افراد و وسایط را در میدان هوایی به عهده دارد.



امنیت: امنیت میدان هوایی دارای دو بخش میباشد؛ ۱- امنیت میدان ۲- امنیت هوانوردی
۱- امنیت میدان: مأمورین امنیتی وظیفه تامین امنیت ساحه ناپاک میدان هوایی را به عهده دارند.
۲- امنیت هوانوردی: جلوگیری از مداخلات غیر قانونی هوانوردی در میدان هوایی را به عهده دارد.



تخنیک (CNS): اداره‌ای است که در میدان هوایی وظیفه حفظ و مراقبت وسایط، قایم نمودن سیستم مخابروی و کنترول حریم فضایی کشور را به عهده دارد.



دستگاه رادار (RADAR): دستگاهی است که کشف و بررسی اهداف ثابت و متحرک توسط امواج الکترونی و مقناطیسی در فضا از طریق آن صورت می‌گیرد.



دستگاه ویسَت (VISAT): دستگاه مخابروی است که برای راهنمایی و تامین ارتباطات استفاده می‌شود و دارای بخش های (UHF)، (VHF) و (HF) است.

(HF): دستگاه مخابروی است که برای رابطه فاصله دور از آن استفاده می‌شود.
(VHF): دستگاه مخابروی است که برای رابطه فاصله متوسط از آن استفاده می‌شود.
(UHF): دستگاه مخابروی است که برای رابطه فاصله کوتاه از آن استفاده می‌شود.



هواشناسی عمومی: عبارت از مطالعه اتمسفیر کره زمین می‌باشد.
هواشناسی هوانوردی (MET): مسئولیت گزارش دادن فضای که منجر به خطرات به طیاره در فضا می‌شود را به عهده دارد.



خدمات زمینی (Ground handling): ارائیه مجموعه خدمات زمینی برای طیاره‌ها در میدان هوایی می‌باشد.



حفظ و مراقبت (MRO): توجه دوامدار به ترمیمات و جلوگیری از تخریبات زیاد و نیز استفاده نمودن اشیا به‌طور درست عبارت از حفظ و مراقبت می‌باشد.



اطفائیه (ARFF): وظیفه حفاظت از جان و مال مسافرین در هنگام آتش سوزی و همچنان رسیدگی به حوادث آتش‌سوزی‌ها و جلوگیری از آن را در میدان هوایی به عهده دارد.

تفحص و نجات: تیمی است که برای پیدا نمودن طیاره‌ها که بیرون از محوطه میدان هوایی دچار حادثه شده و همچنان برای نجات مسافرین و طیاره‌ها در وقت حادثه فعالیت می‌کند.
سازمان جهانی هوانوردی (ICAO): یک سازمان بین‌المللی است که در سال ۱۹۴۴م تأسیس و در آغاز به شمول هوانوردی افغانستان دارای ۵۳ عضو بوده و حالا دارای ۱۹۳ عضو می‌باشد.
معیاری سازی (Certification): سندی است که به یک میدان هوایی زمانی داده می‌شود که تمام معیارات هوانوردی را مطابق سفارشات قانون، مقرره و طرزالعمل‌های هوانوردی تکمیل نموده باشد.
پیام هوایی (Notam): عبارت از اعلامیه است که از تغییرات به وجود آمده فزیکی در میدان هوایی به تمام کارمندان هوانوردی اطلاع داده می‌شود.

ترتیب کننده: حافظ صفی الله "محفوظ "

# الوتونکی موټر



د الف (ALEF) په نوم یوې امریکایي کمپنۍ د هسپانیا په بارسلونا ښار په یوه نړیوال تخنیکي کنفرانس کې یو الوتونکی موټر ننداريې ته ایښی و. دا کمپنۍ غواړي داسې الوتونکي موټرونه بازار ته وړاندې کړي، چې د الوتنې تر څنګ پر سړک هم تګ وکولای شي او هم د ښکته او پورته کېدو جوګه وي. د دوی په دې جوړ کړي موټر کې دوه کسان ځایېږي او تر دوه سوه میله د چلولو او الوتلو وړتیا لري.

د دې کمپنۍ مشر وایي له دې موټرو مو موخه دا ده، چې په ښارونو کې بې‌نظمي او پر سړکونو ګڼه‌ګوڼه کمه شي. د دې کمپنۍ د مسئول په خبره، دا موټر چې د هایدروجن ګاز پکې کارول کېږي، په لومړي ځل به یې بیه درې لکه امریکایي ډالره وي، چې د پیداوار په زیاتولو سره به یې په بیو کې کمی راولي.

## د اندونیزیا خوبه‌وړي پیلوټان



د اندونیزیا هېواد د سیمه‌ییز هوایي شرکت (باټیک ایر) یوه ایربس اې ۳۲۰ ډوله الوتکه، چې ۱۵۳ تنه پکې سپاره وو، له سولاویسي ښار څخه پلازمینې جاکارتا ته په سفر وه، کله چې د جاکارتا هوایي ټرافیکو کنټرول ورسره اړیکه نیوله، هیڅ ځواب نه ورکاوه. له پرلپسې هڅو اته ویشت دقیقې وروسته اصلي پیلوټ ځواب ورکړ او په دې وخت کې الوتکه هم د لنډې مودې لپاره له خپل مسیر وتلې وه.

له ځواب ورکولو وروسته الوتکه په خوندي ډول ښکته شوه. کله چې د اندونیزیا ټرانسپورټ وزارت څېړنه پیل کړه، معلومه شوه چې دواړه پیلوټان د ۲۸ دقیقو لپاره ویده شوي وو او د لنډې مودې لپاره الوتکه هم ترې بې لارې شوې وه. د اندونیزیا ټرانسپورټ وزارت د دې هوایي شرکت دا پېښه غندلې او د ټرانسپورټ مشر یې په اړه ویلي چې نوموړی شرکت باید د خپلو کارکوونکو ارام او استراحت ته پوره پاملرنه وکړي. د اندونیزیا ټرانسپورټ وزارت د یوه راپور له مخې، د الوتکې له الوتنې نیم ساعت وروسته، ۳۲ کلن پیلوټ خپل همکار پیلوټ ته ویلي وو، چې د الوتکې کنټرول په لاس کې واخلي، چې دی استراحت وکړي، د هغه ۲۸ کلن همکار پیلوټ هم منلې وه؛ خو همکار پیلوټ یې هم ویده شوی و. د اندونیزیا حکومت د راپور له مخې همکار پیلوټ په دې وروستیو کې د غبرګونو ماشومانو پلار شوی و او له خپلې میرمنې سره یې د ماشومانو په پالنه کې مرسته کوله چې د بې خوبۍ له کبله په الوتکه کې ویده شوی و. اوس مهال له دې دواړو پیلوټانو د الوتنې جواز د لنډ وخت لپاره ځنډول شوی دی.



## داسې ښار چې د هر کور مخې ته یې الوتکه ولاړه ده

د امریکا کالیفورنیا ایالت کې په ۱۹۶۳ز کال د کیمرون ایر پارک په نوم یو وړوکی ښارګوټی جوړ شوی دی چې ټول پکې ۱۲۴ کورونه دي. د دې ښار عجیبه او په زړه پورې خبره دا ده، چې د کورونو څخه د باندې په تم ځایونو کې موټرسایکل او موټر نه؛ بلکې الوتکې ښکاري. دا کورونه د تقاعد شویو پیلوټانو دي او دوی چې له کوره د باندې چېرته ځي، د موټرو پر ځای په الوتکو کې سفر کوي. په دې ښار کې چې کوم سړک دی، د هوایي ډګر ځغاستلیکې په څېر پراخ جوړ شوی، چې الوتکې پکې په اسانۍ پورته او ښکته کېدلای شي.

## داسې موټر چې له چلوونکي سره به خبرې کوي



تاسې به هرومرو داسې موټر لیدلي وي، چې د ځینو برخو خرابوالی، موبلایلو او تېلو کموالی د ځینو نښو په وسیله ښیي. خو د جرمني مرسدیس بینز او فولکس واګون شرکتونو د ۲۰۲۴ز کال د برېښنایي محصولاتو په نندارتون کې داسې موټرونه ننداري ته وړاندې کړي وو، چې په مصنوعي ځیرکتیا (EI) سمبال وو، چې موټر له خپل چلوونکي سره مکالمه کولای شي. دا موټر له خپل چلوونکي سره احترامانه، پوښتونکې او کله کله په جدیت خبرې کوي. د مرسدیس بینز د ټیکنالوژۍ لوی رئیس مارک شافر وایي، دا داسې موټر دی، چې له چلوونکي سره خواله کوي او چلوونکی ترې پوښتنې کولای شي او لکه ملګری ورسره غږیدای شي. که کومه پرزه یې خرابه وي او یا یې موبلایل کم وي، د نښې پر ځای درته وایي، چې "موبلایل مې کم دي، کلچ کې مې ستونزه ده..."




# د لاجورد لارې دهلېز

د لاجوردو لاره په اصل کې د ورېښمو لارې یوه برخه ده. ویل کېږي دغه لار له نن نه دوه زره کاله وړاندې د ورېښمو لارې په اوږدو کې د دې لپاره جوړه شوه، چې د افغانستان سوداګریز توکي د قفقاز د سیمې تر هېوادونو لکه روسیې، بالکان، شمالي افریقا او اروپایي هېوادونو ته ولېږدوي.

د لاجوردو لار د ورېښمو لارې یوه مهمه او تاریخي لار ده، چې د منځنۍ اسیا، افریقا او اروپا درې لویې وچې سره نښلوي او د همدغه لویو وچو هېوادونو تر منځ د سوداګریزو معاملاتو د راکړې ورکړې لپاره تقریباً پنځلسمه میلادي پېړۍ کې د ۱۷۰۰ کلونو تاریخي مخینې په درلودو سره د سوداګرۍ په برخه کې په نړیواله کچه یوه لویه شبکه وه.

په ۱۲۵٦ ل کال کې لومړني کس چې دغه لاره یې د ورېښمو لارې په نوم ونوموله د جرمني یو جغرافیه پوه (فردیناند رختوفن) و، چې د چین هېواد ورېښم یې له دغه لارې مدیترانې او نورو اروپایي هېوادونو ته لېږدول.

دا چې د لاجورد په نوم ولې یادېږي، ویل کېږي زرګونه کلونه پخوا د همدې لرغونې ورېښمو پر لاره چین هېواد ته له افغانستان څخه لاجورد لېږدېدلي دي، چې هلته یې ډېر شهرت موندلی او اوس هم لاجورد د چین په ګرانبیه ډبرو کې زیات مینه وال لري.










د لاجورد لارې طرحه د افغانستان، ترکيې، ترکمنستان، آذربایجان او گرجستان تر منځ په ۱۳۹۵ل کال د ریکا[1] په اووم کانفرانس کې د پورته یاد شویو پينځو هېوادونو د استازو تر منځ هوکړه شوه او په ۱۳۹٦ل کال د لړم میاشتې په ۲۴ نېټه د ترکمنستان په عشق اباد ښار کې لاسلیک شوه. دا لاره چې له افغانستان څخه پیلېږي، د ترکمنستان ترکمن باشي بندر ته رسېږي او وروسته د آذربایجان د باکو ښار له لارې د گرجستان له تقلیس سیمې څخه د ترکيې قارص ته ځي. افغانستان له دې لارې څخه نړیوالو اوبو ته لاره پیدا کوي، چې تر ټولو مناسبه او چاړمنه سوداگریزه لاره ده او افغانستان د شمالي گاونډیو له هغو هېوادونو څخه تېرېږي، چې د نورو گاونډیو هېوادونو په پرتله یې له افغانستان سره په سیاسي کړکېچ کې لږه ښکېلتیا درلوده. دا لاره افغانستان ته په دا هم گټوره ده، چې د نورو لارو په پرتله یې سوداگریز توکې ژر لېږدول کېږي او لگښت پرې کم راځي.

داچې افغانسان په وچه کې گیر هیواد دی، داسې لارې او دهلیزونه چې نړیوالو اوبو ته پرې لاسرسی پیدا کېږي، ډېرې گټورې تمامېدای شي.

کله چیرې ته تمځای ته په ځنډ رسیدلی یې؛ نو له موټرچلوونکي گیله نهشې کولی، چې ولې یې ستا له اجازې پرته حرکت کړی دی.

1. Regional Economic Cooperation Conference for Afghanistan Regional Economic Cooperation Conference for Afghanistan

# دا هېواد د جوړېدو خوا ته روان دی

ټرانسپورټ او هوایي چلند کارونه
ورانـدې کېږي په ښـه ډول خـدمتونه

په ښـارو کـې منظم شول موټرونه
ورتـه جـوړ شـول مـعیاري ترمیـنلونه

تخنیکي چک یې روان هر ترمینل کې
تر څو پېښه نهشي ستونزه په مزل کې

معـیاري د ځـمـکني ټرانسپـورټ چـارې
پرمختـګ ته دي پرانستـي ټولـې لارې

د بـاري لاریـو درومـې کـتـارونه
مسافر کوي شـپه ورځ خپـل سفرونه

هـوایي چـارې روانـې ډګـرو کـې
ټـولې چـارې افغانـانو په لاسـو کـې

عـواید سـیده روان تـر بیتالمـاله
ټولو چارو کـې روڼتـیا تـر دا مـهاله

افغانان په هر یو بخش کی روزل کېږي
خدمـتونه په ښه شان ترسـره کېږي

دا هېواد د جـوړېدو خـوا ته روان دی
د اسـیا زړه کې روښان افغانستان دی



وزارت ترانسپورت و هوانوردی

ریاست اطلاعات عامه و نشرات

مجله

# ترانسپورت و هوانوردی

علمی معلوماتی فرهنگی

